# ادیان او مذاهب

**صنف : دویم ، دویم سمستر**

**استاذ: پوهنمل محمدوسیم (حنیف)**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لومړی درس

# د دین پیژندنه

**د دین لغوي پیژندنه:** د لغت په اعتبار سره دین له دان یَدَیْنُ څخه اخستل شوی، چې لاندې معناوې لري:

1. غلبه، برلاسي، حکومت او سلطنت.
2. غاړه ایښودل، غلامي، بندګي، عاجزي او ذلت.
3. د سزا او بدلې په معنی هم راځي لکه :مالک یوم الدین
4. د مذهب او لارې، د ژوند نظام او قانون په معنی هم راځي.

نوټ: دلته ترې مراد د ژوند نظام او قانون دی.

# د دين پيژندنه

## د دين اصطلاحي معنی:

دين له معتمدو غيبي امورو څخه عبارت دی، چې په الهي وحي ولاړ او ټول نظام يې په الله تعالی پورې مربوط دی، تجربې، ازموينې او مناقشې ته په کې هيڅ ځای نه شته.

- قرآن کريم دغه اصطلاح په ( الدين ) سره معرفي کوي، يعنې د ژوند معينه، حقيقي، رښتيني او عملي تګلاره.
- دغه تګلاره يواځې روحاني او انفرادي نه ده؛ بلکې د انفرادي او ټولنيز ژوند لارښود دی.
- ځينې خلک دين د انفرادي ژند لارښود بولي، خو دغه تصور د اسلام خلاف د ضلالت او لادينه سيکولر تصور دی، اسلام به تر قيامته د ټول بشريت د ژوند ټول انفرادي او ټولنيز ژوند رهبري کوي، د قومونو، ولسونو او ملتونو د رهبرۍ دايمي صلاحيت لري.

# بشري ژوند تجزيه او ويش نه مني

د انسان ژوند په مجموعي توګه يو کُل دی، هره برخه يې له بل سره ټينګه اړيه لري، د ټولې مجموعې څخه د اسان ژوند جوړيږي، انسان ته د فکر، علم، ادب، ښوونې، اخلاقو، ټولنيز ژوند، اقتصاد، سيست او قانون يوه سرچينه پکار دی.

د الله تعالی دين ته د بشر اړتيا

دين د بشر له اړتيا او له اصلي احتياجاتو څخه شميرل کيږي، او له بې دينۍ سره د اخرت د تل پاتې ژوند تباهي ملګرې ده.

# دين ته د عقل اړتيا

د انسان سترگې په ليدلوکې نورته اړتيا لري؛ له نوره پرته سترگه خپله دنده سرته نه شي رسولی، په همدې توگه له اسماني وحی او الهي دين پرته عقل خطاء کېږي دغه لاندې پوښتنې دين خوابولی شي:

- انسان چا پيدا کړی دی، خالق يې څوک دی؟
- هغه څرنگه ذات دی؟
- صفات يې څنگه دي؟
- دانسان د ژوند هدف څه شی دی؟
- د څه په خاطرنړی ته راغلی دی؟
- ولی عقل او اراده ورکړل شوې ؟
- د ده لپاره ښه او بد کوم شيان دي؟
- په نړۍ کې کوم مسئوليت لري او که نه؟
- مرگه وروسته به څه کېږي؟

# دین ته د عقل اړتیا

د اسلام دین انسان ته وايي چې د ټولو کایناتو کایناتو خالق، مالک او واکمن الله تعالی دی، هغه کامل دی، په ذات او صفاتو شریک نه لري، د کایناتو منتظم، مدبر، د بشپړ علم او حکمت څښتن دی.

- دین انسان له خپل وجود او مسئولیت سره اشنا کوي، د هغه د ژوند هدف د ځمکې ودانول، پر ځمکه د دین حاکمیت، د د بندګانو د حقوقو پوره کول، اخروي ژوند ته تیاری او د الله تعالی رضا او خوښي حاصلول دي.
- د الله تعالی لومړی حق یواځې د هغه عبادت په داسې طریقه کول دي، چې پیغمبر علیه السلام مونږ ته ښودلي.

# دین ته د عقل اړتیا

- مومن مسئولانه ژوند لري، په قبر کې به ورسره سوال او ځواب کیږي، د خپلو اعمالو بدل او ثواب به ترلاسه کوي، د مرګ وروسته خپل رب ته ورځي.
- څوک چې له دین څخه پرته ژوند کوي بد بخته او محروم انسان دی، هغه د حیواناتو هیڅ توپیر نه لري، ځکه حیوانات هم د خپل او مرګ په هدف نه پوهیږي، الله تعالی فرمایلي: {بَلِ ادَّارَكَ عِلْمُهُمْ فِي الْآخِرَةِ بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ مِنْهَا بَلْ هُمْ مِنْهَا عَمُونَ} [النمل: 66].
- عمر بن عبدالعزیز رحمة الله څومره ښه ویلي دي: موږ د همیشه لپاره پیدا شوي یو، له همدې امله له یوکور څخه بل ته منتقل کیږو.

# دین ته د بشر د وجدان اړتیا

انسان له عقل، وجدان، روح او انسانی فطرت څخه ترکیب شوی، د انسان روحاني خالیگاه په مادیاتو نه ډکیږي، ځکه د انسان فطرت د توحید په عقیده خوشحالیږي، یې پرېشاني په اطمنان بدلیږي، قرآن کریم دین د بشري فطرت په عنوان مطرح کړی، الله تعالی فرمایلي: {فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ} [الروم: 30].

- له همدې امله له دین نه پرته مترقي او پرمختللي ملتونه له رواني اضطراب سره مخامخ دي او دغه خلا په نشو ډکوي، د دوی مثال د هغه انسان په څېر دی چې په یوه پښه خپل مزل ته دوام ورکوي.

# د دین اهمیت

لومړی- دیني باور د انساني ضمیر او احساس په روزنه، د اخلاقو په تزکیه، د خیر د انګېزو په رامنځته کولو کې ستر رول لري، انسان له شر څخه لرې ساتي.

- دغه احساس چې الله تعالی مې ګوري، هغه په هرڅه خبردار دی، زما ټول اعمال د ملایکو په دفترکې ثبتېږي، له ما سره د ښو او بدو اعمالو محاسبه کیږي.
- د همدغه باور پر نسټ د پرمختللیو هیوادونو په نسبت په اسلامي نړۍ کې د جرایمو ګراف کمزوری دی، ځینې معاصر انګریز قاضیان د خپل هېواد په اړه وایي :چې له علمي ترقی، فرهنګ او د دقیقو قوانینو له زیاتوالي سره - سره بیا هم هېواد یې د تباه کوونکو جرمونو ځاله ده.
- ښاغلي استاد علي جریشه خپل د سترګو لیدلی حال داسې بیانوي: هلته له دومره مضبوط او پیاوړي نظام سره خلوېښت ثانیو کې یوه غلا او په هرو څلور دقیقو کې یوه وژنه صورت نیسي.

# د دین اهمیت

دویم- دین د خلکو په اړیکو کې ډېر لوی رول لوبوي؛ ټول انسانان د الله تعالی بندګان بولي، پلار یې آدم او مور یې حوا، لارښود یې رسول الله علیه السلام او قرآن کریم یې قانون او بیت الله یې قبله ده، الله تعالی فرمایلي: {إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ} [الحجرات: 10].

- دغه دیني ورورګلوي د انسان په روحیاتو اغېزه کوي، تردې کامل مسلمان د بل لپاره هغه څه خوښوي چې خپل ځان ته یې خوښ بولي، نورو ته په خپل ځان ترجېح ورکوي.
- انګریزي لیکوال کولن ولسن په خپل تمرد نومې کتاب کې لیکلي: بېشکه اروپا د تخنیکي مادې تولیداتو له اړخه ډېره پرمختللې ده الوتکی، موټرې ، یخچالونه... د ژوند ګڼ لوازم یې اختراع کړي؛ خو دغه ټول شیان د انسان د سعادت ، قلبي او نفسي راحت کې ناکام شوي، له همدې کبله په نېشه یې توکو لاس پورې کوي؛ ځکه چې د سعادت او سکون قضیه زړه پورې تړلې ده، یواځې په الله تعالی ایمان د اوسنې مترقي بشریت دغه تشه ډکولی شي.

# د الهي نظام په څېر نظام جوړول

اوس پوښتنه داده: ایا انسان د خپل هر اړخیز ژوند لپاره د الهي نظام په شان نظام جوړولی شي؟

ځواب دادی: یو د ژوند وسایل دي او بل د ژوند اهداف او مقاصد، د ژوند د وسایلو د پېژندنې سرچینه عقل اوانساني تجربې دي؛ مګر د انسان عقل لاندې پوښتنو ته له ځواب ویلو عاجز دی:

- د انسان حقیقت څه شی دی؟
- د کایناتو حقیقت څه ده؟
- په کایناتو کې د انسان مقام او مرتبه او حیثیت څه ده؟
- د کایناتوڅښتن څوک او صفات یې څنګه دي؟
- له مرګه وروسته د ژوند قضیه څنګه ده؟
- د انسان د ژوند هدف څه شی دی؟
- د تمدني ژوند اصول کوم دي ؟
- د انسان فطري غوښتنې څه شی دي؟
- د انسان لپاره ښه کوم او بد کوم شیان دي؟
- خیر او شرڅه شی دي؟

# د بشري وسايلو ارزونه

له انسان سره د دين او ژوند د جوړولو لپاره لاندې وسيلې دي:

١. د نفس غوښتنې او خواهشات.

٢. عقل

٣. تاريخ او د تېرو تجربو ريکارډ.

٤. ساينس (مشا هده او تجربه )

دغه څلور واړه وسايل تر کتنې لاندې نيسو او ګورو چې ايا دغه شيان د دين او د ژوند د نظام په جوړولو د ښو او بدو په پېژندلو کې له انسان سره مرسته کولی شي؟

# د بشري وسایلو ارزونه

لومړی وسیله: د نفس غوښتنې: د نفس غوښتنې انسان کار ته هڅوي؛ خو د انسان لارښود نه شي گرځېدلی، د انسان عقل د نفس د خواهشاتو په وسیله گمراه کېږي، که چېرته یو شخص هر څومره روڼ اندی او د سالم فکر څښتن وي، که وروستۍ پرېکړه د نفسي غوښتنو په اساس وکړي، سل په سلو کې به ناسمه وي، ټولنه به د گډ ودې لورې ته ولاړه شي.

دویمه وسیله : عقل: د انسان عقل لوړ صلاحیتونه لري، د انسان شرافت او مکلفیت د عقل له امله دی، په انساني ژوند کې عقل ډېر اهمیت لري، خو عقلونه هم مختلف دي، د عقل دایره د ژوند وسایل دي، د ژوند اهداف، د خیر او شر تشخیص، له مرگه وروسته ژوند او د کایناتو د خالق د وجود پېژندنه له وحی نه پرته امکان نه لري.

# د بشري وسایلو ارزونه

دریمه وسیله- تاریخ: تاریخ ډیر اهمیت لري، تاریخ ته مونږ د تیرو انساني تجربو ریکارډ وایې، په زغرده ویلی شو چې د دین او د ژوند د بشپړ نظام جوړول د تاریخ د علم د وس خبره نه ده.

څلورمه وسیله- ساینس: ساینس د مشاهداتو او تجربو څخه حاصلیږي، د دې علم مرتبه او منزلت خو هر چاته معلوم دی، ساینس د ژوند وسایل انسان ته برابروي، خیر، شر او د ژوند لوړ ارزښتونه د ژوند له هدف سره نه شي یوځای کولای، د سترو حقایقو له تشخیص د ساینس د وس کار نه دی، د تمدن اصول، د ښو او بدو پیژندل د ساینس په وسیله امکان نه لري.

# مايوسناکه پايله

اوس که چېرته د انساني ژوند د لارښووني د ښو او بدو د خير او شر د تشخيص لپاره يو سپېڅلی ذات شتون ونه لري لکه څنګه ملحدين پرې باوري دي؛ نو ژوند بې باوره او نا اميده وي.

- که چېرته څوک د الله تعالی په شتون قايل وي او د الله تعالی د لارښوونې له حق څخه منکر وي او وايې: د ښو او بدو د تشخيص لپاره راته عقل کافي دی، دا خود عقل خلاف کار دی چې يو څوک دې خالق وي؛ الله تعالی د کايناتو خالق او لارښود دیالله تعالی فرمايلي: { قَالَ رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَى} [طه: 50].
- د کايناتو هره ذره د الهي لارښوونو پر بنسټ تنظيم شوې ده. د هرشي لپاره يې مسير ټاکلی، هر شی ځانګړې دندې پرمخ بيايـي.

# مایوسناکه پایله

د انسان لپاره دوه ډوله هدایت په برخه شوي:

لومړی- فطري هدایت: د بیاګړې په توګه: ماشوم ته د مور د سینې اخیستل چا ورښودلي؟ د شاتو د مچۍ کاریګري، نظم او انتظام هم فطري پوهه ده

دویم- تشریعي هدایت: انسان ته په کار دي چې خپلسري پرېږدي، او الله تعالی او د هغه پیغمبرانو ته تسلیم شي، همدغه د ژوند سمه نېغه لاره ده؛ الله تعالی فرمایلي: {أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ} [الأعراف: 54].

- د انسان لپاره همدغه تګلاره صحیح ده؛ ځکه چې د ټولو حقایقو ریښتینی علم، الله تعالی فرمایلي: {إِنَّ اللَّهَ لَا يَخْفَى عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ} [آل عمران: 5] .
- قرآن عظیم الشان یې په ډاګه اعلانوي{وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ} [المائدة: ۴۵].
- د دغو دلایلو پر بنسټ د یو هوښیار انسان لپاره ضروري ده، چې هغه په وړاندې د اطاعت دې سر ټیټ کړي او د لارښوونې په خاطر دې د هغه په لوري ورستون شي.

# د دين، مسلک ، مذهب او منهج ترمنځ توپير

دين د ژوند قانون او نظام ته وايې، د دين مفهوم له مذهب څخه ډېر پراخه دی؛ ځکه دين د خالق او مخلوق د اړيکو، په اخرت باور او د ټول ژوند د چارو تنظيم دی؛ لکه عبادات، اخلاق او معاملات ترخپل پوښښ لاندې نيسي.

- مذهب د ژوند د چارې سنبالوي.
- منهج تګلارې ته ويل کېږي؛ لکه چې وايې: (منهج اهل السنه في الفقه ) او (مناهج الطوائف المتبدعة)، (الخلاف المنهجي) يعنې منهجي اختلاف او يا (منهج السلف) يعني د سلفو تګلاره
- شرعي منهج په ځمکه کې د عقيدې او دين له واکمنۍ او اقتدار څخه عبارت دی؛ نو د منهج لفظ عام دي او د مذهب خاص؛ لکه علماني، لبرالي نشنلستي اوکمونستي منهج درواخله.

# د دین ډولونه

په نړۍ کې دینونه په دوو برخو وېشل شوي دي:

۱. اسماني او الهي اديان: دا بیا دوو برخو ته وېشل کېږي:

الف: غير محرف (چې تغير اوبدلون نه لري) هغه د اسلام مبارک دين دی.

ب: محرف (تغير شوي)اسماني اديان يهوديت او نصرانيت دي.

۲. وضعي (د بشر په لاس جوړ شوي ) اديان: لکه هندووااله، سکيزم، بوديزم، کنفوشېزم او شنتوييزم دي.

# د اسلام پيژندنه

**د اسلام لغوي معنی:** اسلام په لغت کې تسليمېدو او غاړه ايښودلو ته ويل کېږي، : يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً (البقرة 208).

**په حديث کې د اسلام تعريف:** نبي عليه السلام په حديث کې د اسلام تعريف داسې کړی : «الْإِسْلَامُ أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ، وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلًا».

**د اسلام اصطلاحي معنی:** په اصطلاح کې اسلام ټولو هغو احکامو ته په عاجزۍ سره غاړه ايښودل دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته زموږ د هدايت او لارښوونې له پاره رارسولي دي.

**د الاسلام مفهوم:** په قران کريم د الاسلام اصطلاح ذکر سوي ده چې معنا يې ده: د الله جل جلاله پر وړاندې ټيټېدل، عاجزي او تسليمي. او اسلام دين د ټولو پيغمبرانو دين دی.

# د اسلام ډولونه

اسـلام په دوه ډوله دی:

لومړی- تکویني اسلام: ټول کاینات له اتوم نه نیولې ترلویوکهکشانونو... پورې ټول دالهي نظام قوانینو او اصولو ته تابع دي الله تعالی فرمایلي: {وَلَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ} [آل عمران: 83].

- دانسان بدن هم دوه برخې لري: یوه یې تکویني چې دده له اختیا ره وتلې او بله اختیاري برخه ده.
- په تکویني لحاظ د انسان د بدن هره برخه لکه د زړه، ځیگر، کولمو او دماغ حرکت ټول د تکویني قواعدو تابع دي په دې برخه کی انسان واک نه لري.
- مگر د انسان ارادې او اختیار په برخه کې څه وکړي څه وخوري څه ووایي د ده لپاره ښه او بد، خیر او شر کوم شیان دي دغه برخه یې د خپلو پیغمبرانو په وسیله انسان ته ښودلي چې په تشریعي اسلام سره یادېږي.

# اسلام د ټولو پیغمبرانو د دین په توګه

د ټولو پیغمبرانو دین له آدم نه تر رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې اسلام ؤ؛ مګر د وخت د پیغمبر د وفات نه وروسته به د هغه پیروانو ورته قومي رنګ ورکړ، نصرانیت او یهودیت قومي نومونه دي قرآن عظیم الشان د ګڼو پیغمبرانو یادونه کوي چې هغوی ټول مسلمانان ؤ او خلک یې اسلام ته رابلل.

- الله تعالی د نوح علیه السلام په اړه فرمایلي: {وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ} [یونس: 72].
- الله تعالی د اسماعیل او ابراهیم علیهما السلام دوینا داسې حکایت کوي: {رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ} [البقرة: 128].
- الله تعالی موسی علیه السلام حکایت کوي: {وَقَالَ مُوسَى يَاقَوْمِ إِنْ كُنْتُمْ آمَنْتُمْ بِاللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوا إِنْ كُنْتُمْ مُسْلِمِينَ} [یونس: 84].

# اسلام د ټولو پیغمبرانو د دین په توګه

- الله تعالی د یو سف علیه السلام د دعا داسي حکایت کوي:{ أَنْتَ وَلِيِّي فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ} [يوسف: 101].
- الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حکم کوي چې داسې اعلان وکړه: {قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (161) قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (162) لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ} [الأنعام: 161 - 163].
- قرآن عظیم الشان یې اعلانوي چې الهی اوامرو او نواهیو ته له ځان سپارلو او تسلیمۍ نه پرته ثوک مسلمان کېدلای نه شي: {فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا } [النساء: 65].

# د اسلام خصوصیات

په خصوصیت او ځانګړنې سره د هر شي له بل څخه بېلتون رامنځته کېږي، دینونه ځینې ځانګړتیاوې لري، چې په هغې سره یو له بل څخه بیلیږي.

- ځینې ناپوهان داسې انګېري چې اسلام، نصرانیت، یهودیت، بودیزم او هندوئیزم ټول یو شی دی؛ خو داسې نه ده؟ شرک څنګه له اسلام سره برابرېدای شي، یهودیت او نصرانیت خو تحریف شوي، د هغوی مذهبي مشران په خپله اعتراف کوي.

# د اسلام خصوصيات

لومړی: ربانيت: له مسلمان قوم سره د الله تعالی پيغام په اصلي بڼه موجود دی، چې هيڅ ډول بدلون په کې نه دی رامنځته شوی.

د رباني معنی: رب ته منسوب دی، هغه مسلمان رباني بلل کېږي چې الله تعالی سره يې ټينګه اړيکه وي الله تعالی فرمايي:{وَلَكِنْ كُونُوا رَبَّانِيِّينَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُونَ} [آل عمران: 79].

د رباني انسان څلور صفتونه: رباني انسان څلور صفات لري:

١. د دين علم او پوهه درلودل،
٢. په دين عمل،
٣. ددين دعوت چلول،
٤. په دين استقامت اوټينګ پاتی کېدل.

- امام ابن قيم رحمة الله وايي: دغه څلور صفتونه چې په چا کې وي هغه د ملايکو په عالم کې ستر شخصيت ګڼل کېږي.

# د اسلام خصوصيات

**د ربانيت مطلب:** د اسلام عقيده، عبادات، معاملات او ټول قوانين د الله تعالی له خوا دي.

**د ربانيت اهميت:** دغه خاصيت څخه مؤمن مسلمان ته ثابتيږي، چې د اسلام سپيڅلی دين کامل، له هر عيب، جهل، هوی، هوس او ظلم څخه پاک، تر قيامته تل پاتې او هميشه د ملتونو لارښود او رحمت، د ژوند د ټولو پيښو او ستونزو د حل وړتيا او ټول بشريت ته د امن، عدل او سوکالۍ پيغام له ځانه سره لري.

**د ربانيت ثمرات:** د ربانيت صفت د انسان په نفس اوزړه اغيزې لري اوهغه دادي چې:

- د ژوند د هدف پېژندل،
- د بندګانو له اسارت او غلامۍ او شهوت پالنې څخه خلاصون،
- د اسلام قوانينو ته د زړه په مينه غاړه ايښودل او ورته التزام کول،
- له رواني اضطراب او پريشانتيا څخه روغ پاتې کېدل.

# د اسلام خصوصيات

د اهدافو له اړخه د انسانانو ډولونه: د اهدافو په لحاظ انسانان ګڼ ډولونه لري، ځينې يې د ملايکو تر مقامه لوړېږي او ځينې نور بيا د ځناورو تر مرتبې هم ټيټ مقام ته رسېږي، مونږ يې په درې کټه ګرېونو باندې ويشو.

١. حيوان صفته ډله: هغه چې هدف يې خوراک، څښاک او د جنسي غريزې پوره کول وي، د دين، عقيدې او وطن پروا نه لري، د نفسي غو ښتنو پيروان دي، دغه خلک الله تعالی داسې راپېژني: {أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ} [الأعراف: 179].

٢. شيطان صفته ډله: هغه چې د ژوند هدف يې انسانانو ته زيان رسول، دوکه او فريب ورکول وي، الله تعالی دغه ډله داسې راپېژني: {وَالَّذِينَ يَنْقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مِيثَاقِهِ وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ أُولَئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ} [الرعد: 25].

٣. ربا ني صفته ډله: د دوی ستره موخه دالله جل جلاله بندګي او د هغه رضا وي، دنيا او دنيوی وسايل د اخرت توښه او په دنيا کې مسؤلانه ژوند سرته رسوي.

# د اسلام خصوصیات

د  قانون د سرچینې ربانیت: د اسلام قوانین او لارښوونې سوچه رباني دي، د کوم فرد، کورنی، ډلې او ولس د ارادې او فکر محصول نه؛ بلکې د دې ټولو سرچینه ده

رباني عقیده: زموږ د عقیدې: د الله تعالی ذات، اسماء او صفات، مجازات او د اخروي نړۍ سرچینه قرآن کریم دی.

ربـاني عبادات: هېڅوک په کې د کموالي او زیاتوالي حق نه لري، نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ فِيهِ، فَهُوَ رَدٌّ»، صحيح البخاري (3/ 184).

رباني اداب: د ژوند د بېلا بېلو برخو اداب لکه: د مور او پلار درناوی، له بندګانو حقوق او احترام، صداقت، امانت، عفت او پاک لمنې، وفا، عدالت او نور... دغه ټول اداب او اخلاق د وحی له سرچینې خروبېږي.

رباني قوانین: داسلامي شریعت ټول انفرادي، ټولنیز، سیاسي، اقتصادي د ټولو سرچینه وحي ده، هېڅوک د قانون جوړونې صلاحیت نه لري، څوک چې د قانون جوړونې واک بشر ورکوي، قرآن کریم یې مشرک بولي: {اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَهًا وَاحِدًا لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ} [التوبة: 31].

# د اسلام خصوصيات

د ربانيت د پياوړتيا لارې چارې: د ربانيت د پياوړتيا لپاره ګڼې لارې چارې په نښه کړې دي:

١. عبادت: په فرضي او نفلي عباداتو سره مسلمان له خپل رب سره اړيکه جوړوي.

٢. اخلاق او اداب: د شريعت مطابق د ژوندانه اداب لکه: خوراک، څښاک، تللو او نورو سره ربانيت پياوړی کيږي.

٣. کورنی سپيڅلی دين پاله چاپيريال: د مور او پلار له لورې د اولاد پاکيزه د مسلمان ربانيت پياوړی کوي، پلار د اولادونو د مادي او روحي پالنې مسؤل دی، پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ، وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا، وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرٍ وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ»، سنن أبي داود (1/ 133).

٤. قانوني تګلاره: په ټولنه کې د ربانيت د پياوړتيا بله لاره قانون دی، حکومت بايد په ټولنه کې د ربانيت ساتنه او څارنه وکړي مرتد ته سزا وکړي، هغه ټولې لارې بندې کړي چې دټولنې اعتقادي سيستم ته صدمه وارده نه شي.

٥. نوري تګلا رې: لکه جوماتونه، خطبې. درسونه، لمونځونه، خپرونې، جريدې، مجلې، کتابتونونه، تلويزون اوراډيو په ملت کې دربانيت دروحيې دژوندي ساتلواغيزمنې لارې چارې دي.

# د اسلام خصوصيات

**دويم خاصيت انسانيت:** معنى دا چې دغه دين د ولسونو، قومونو او ملتونو د لارښوونې لپاره نازل شوی، دغه دين يواځې د بنده او رب ترمنځ اړيکه نه تنظيموي؛ بلکې د ملتونو، تمدنونو او ولسونو ټول ژوند رهبري کوي.

- د انسان د عقل د لارښوونې لپاره الله تعالى وحى نازله کړې ده؛ ځکه بشري عقل د ښو او بدو په انتخاب کې خطاء کېږي، انسان په عقل سره د ژوند وسايل معلوملای شي؛ مګر ډېر شيان په عقل سره نه معلومېږي، لکه دالله جل جلا له ذات، جنت اودوزخ . ملايکې، ښه اوبد حرام اوحلال اوداسې نور. الله تعالى فرمايي: {وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِلْمُوقِنِينَ (20) وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ} [الذاريات: 20، 21].
- اسلام د ژوند د وسايلو په پېژندنه او پرمختګ کې عقل ته ازادي ورکړې، پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «أَنْتُمْ أَعْلَمُ بِأَمْرِ دُنْيَاكُمْ»، صحيح مسلم (4/ 1836)

# د اسلام خصوصیات

**قرآن کریم دانسان درهبری کتاب:** د ټول قرآن کریم خطاب انسان ته متوجه دی، د انسان لفظ په قرآن عظیم الشان کې (63) ځله او د بنی آدم (6) ځله او د (الناس) کلمه (۲٤۰) ځله ذکر شوې ده دلومړی وحی سورة العلق پنځه ایتونه هم دانسان په هکله دي.

**محمد صلی الله علیه وسلم دبشریت لارښود:** محمد صلی الله علیه وسلم د بشریت د لارښوونې لپاره د نمونه شخصیت په توګه رالیږل شوی، د هغه اخلاق قرآن کریم و، د هغه شخصیت انساني او بشري ؤ، خوراک او څښاک یې کاوه، مېرمنې او اولادونه یې درلودل، غم اوخوشالي پرې راتله، له ګنا هونو څخه پاک اوسپېڅلی ؤ، په دې توګه الله جل جلا له پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ټول بشریت لپاره مثالی شخصیت ګر خولی ؤ

# د اسلام خصوصيات

د انسان فضيلت مقام او مرتبه: انسان ته الله تعالى لوړ مقام ورکړی، په لاندې توګه يې څرګندوو:

١. د ځمکې خلافت: اسلام انسان اشرف المخلوقات او د ځمکې جانشين بولي: {وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا} [الإسراء: 70].

٢. ښايسته بڼه او ښه صورت: الله تعالى انسان ته ښکلې بڼه ورکړې ده، الله تعالى فرمايي: {لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ} [التين: 4].

٣. په اسماني وحی سره يې لارښوونه: الله تعالى د انسانانو دلارښوونې لپاره وحی نازله کړه، ترڅو د حيوانيت څخه د انسانيت تر پړاوه ورسيږي، انسان د کرامت او شرافت تر مقامه د وحې په تعليماتو سره رسيږي.

# د اسلام خصوصیات

٤. د کایناتو تسخیر: الله تعالی ټول کاینات (ځمکه، لمر، سپوږمۍ، ستوري، شپه او ورځ، وچه او لمده او خاروي د انسان د خدمت لپاره پیدا کړي: {أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَابٍ مُنِيرٍ} [لقمان: 20].

په دغه آیات کریمه کې د انسان لپاره د ځمکې تسخیر لاندې معناوې افاده کوي:

١. د کایناتو ټول نظام د انسان په خدمت کې ورکړ شوی،

٢. انسان اشرف المخلوقات دی هغه به د الله عز وجل نه پرته هېڅوک خپل حقیقي حاکم نه بولي.

٣. د انسان او الله جل جلا له ترمنځ د کاهنانه واسطې لغوه کېدل: په اسلام کې الله جل جلاله ته د تقرب وسیله د نصرانیت په شان نه ده چې د پاپ په وړاندې د توبې مراسم سرته ورسوي؛ بلکې په اسلام کې به نېغ په نېغه انسان خپل څښتن ته په دعاء اوزارۍ لاس پورې کوي.

# د اسلام خصوصيات

په اسلام کې د بشر حقونه: اسلام انسان پوره حقوق ورکړي چې ځينې حقوق دغه دي:

١. د ژوندانه حق: ژوند الهي ورکړه ده، هېڅوک يې د اخيستلو حق نه لري، د انسان د وينې د ساتنې په خاطر د قصاص نظام رامنځته شوی، الله تعالی فرمايلي: {وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَاأُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} [البقرة: 179].

٢. د ابرو او عزت حق: اسلام د بشر د شرف، عزت او ابرو بشپړه ساتنه کوي، د انسان باندې د تور لګولو لپاره د قذف حد باندې امر شوی.

٣. د ښو وني اوروزني حق: په انساني ټولنه کې ټول افراد حق لري ترخو پوهه الله تعالى فرمايي: {قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ} [الزمر: 9].

٤. د کارکولو او ملکيت حق: هر څوک حق لري چې په شرعي چوکاټ کی ملکيت ولري او په کې تصرف وکړي .

# د اسلام خصوصيات

د اسلام د دين د انساني توب پایله

۱. د اخوت او ورورګلوۍ اصل. ۲. په حقوقو کې مساوات. ۳. د قانون په وړاندې مساوات.

- په اسلام کې مال، رنګ، ژبه او نسب اهمیت نه لري، ټول خلک په حقوقو او د د حدودو په تطبیق کې برابر دي، یواځې نیک عمل او تقوی د غوره والي وسیله ده.
- په اسلام کې عبادات د یووالي، وحدت اوورورګلوۍ رمز دی په لمانځه، حج او عمره کې د ټولې نړۍ مسلمانان یو شان دي، حاکم او ولس، د شتمن او نیستمن توپیر نشته.

د انسان د رهبرۍ پایلې: انسان ته د ځمکې خلافت، د ځمکې د ابادولو پوهه او عقل ورکړې، له ملایکو څخه لوړ مقام یې ور په برخه کړې ، داسلام مقدس دین د انساني کرامت، مال او شرف په ساتنې تاکید کوي، اسلام یواځې په ژوندانه دانساني حقوقو د ساتنې اعلان نه دی بلکې ترمړ ینې وروسته یې هم د تکریم اوعزت وړ بولي

# د اسلام خصوصيات

دریم خاصيت شمول: اسلامی شريعت د تولد څخه تر بوډاتوب پورې د انسان روحاني، مادي، فردي، ټولنيز، فرهنګي، فکري، سياسي، اقتصادي، ديني او دنيوي ټول اړخونه رهبري کوي؛ مګر بدبختانه مسلمانان د استعمار د چټلو او مردودو افکارو څخه اغيزمن شوي.

د شمول مفهوم

١. زماني پراختيا: د اسلام لارښووني نړۍ والې، بشپړې او ترقيامته پورې دي. الله تعالى فرمايلي: {الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا} [المائدة: 3].

٢. مکاني پراختيا: اسلام د ټولو ملتونو، نژادونو او توکمونو د لارښووني لپاره راغلی، دغه دين د کوم ځانګړي ملت نه دی، الله تعالى فرمايي: {قُلْ يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ} [الأعراف: 158].

# د اسلام خصوصیات

۳. انساني شمولیت: اسلام په مجموعي توګه د انسان روحاني، مادي، فکر، اراده او وجدان تر لارښوونې لاندې نیسي، اسلام د تحریف شوي نصرانیت په څیر نه دی، چې یواځې د انسان روحاني برخې ته پاملرنه کوي او مادي برخه لکه: سیاست، اقتصاد، دولت، ټولنه، ښوونې او روزنې، قانون او محاکمو ته پاملرنه نه کوي.

٤. د ژوند ټولو پړاؤنو ته شمول: اسلام د انسان د ژوند په ټولو اړخونو (ماشومتوب، ځواني، بوډاتوب، د پیدایښت څخه مخکې او د مرګ وروسته ټولو برخو کې) احکام لري، مور او پلار د اولاد په روزنه او ساتنه مکلف ګرځوي.

٥. د ژوند ټولو اړخونو ته شمول: د اسلام سپېڅلي دین د ژوند ټولو اړخونو ته لکه: مادي، روحي، فردي، اجتماعي، فکري، عملي، دیني، سیاسي، اقتصادي او اخلاقي ټولو اړخونو ته شامل دي.

# د اسلام خصوصيات

٦. د اسلامي تعليماتو پراختيا: شمول په عقيدې، عباداتو، اخلاقو، قانون جوړونه او د فکر په تنظيم کې شته.

١) په اعتقادي برخه کې: لکه: دالوهيت، کايناتو، انسان، نبوت، اخرت او نور عقيدوي مسايل شتون لري، اسلامي عقيده تجزيه نه مني، الله تعالی فرمايي: {أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ مَنْ يَفْعَلُ ذَلِكَ مِنْكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَى أَشَدِّ الْعَذَابِ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ} [البقرة: 85].

٢) د عباداتوپه برخه کې د اسلام د شمول خصوصيت په عبادت کې هم له ورايه ښکاري، مسلمان يواځې په ژبه په عبادت لاس نه پورې کوي بلکې بدن، زړه، حواس او ژبه ټول په عبادت لګيا وي.

- په اسلام کې عبادت هر اړخيز دي، عبادت يواځې په لمانځه، روژې، زکات، او حج کې محصور نه دي؛ بلکې ټول کړه وړه چې د الهي شريعت په چوکاټ کې سرته ورسيږي عبادت ګڼل کيږي، لکه زيان رسوونکي شيان له لارې لرې کول، کورنۍ ته روزي برابرول، اقوال، اعمال ظاهره او باطنه ټول په عبادت کې شميرل کيږي.

# د اسلام خصوصيات

۳) **په اسلام کې د اخلا قو شمول:** په اسلام کې اخلاق د ټول ژوند او ټولو مخلوقاتو پورې اړوند دي.

أ- **په فرد پورې اړوند:** مومن مسلمان به خپل ځان ته بشپړه پا ملرنه کوي، د جسم توازن به ساتي، پاک خواړه به خوري، له اسراف څخه به کار نه اخلي، هر شی چې د انسان دین، ژوند، عقل، مال او نسل ته ضرر رسوي له هغې به ځان ساتي.

ب- **په کورنۍ پورې اړوند:** اسلام د مېړ من او مېړه، مور او پلار، اولادونو او نورو خپلوانو تر مينځ د ښو اخلاقو غوښتنه کوي، دغه اړيکې به په مينې، عاطفې، متقابل درناوي، سخاوت د حقوقو پالنه ولاړه وي.

ت- **ټو لنې پورې اړوند :** اسلام د خلکو د ناموس، عزت او د کو رني ژوند د ادابو د رعايت لارښوونه کوي، هېڅوک حق نه لري چې له اجازې پرته د چا کور ته داخل شي، د ټولنې وګړو ته زيان ورسوي، په اقتصادي او سياسي چارو، او د ژوند په ټولو برخو کې به له انصاف څخه کاراخلی.

# د اسلام خصوصیات

ث- خارویو سره ښه چلند: اسلام یوازې له انسـانانو سره په ښه چلند تاکید نه کوي؛ بلکې له خارویو او حیواناتو سره هم په ښه تعامل زور اچوي، پیغمبر صلى الله علیه وسلم فرمایلي: «عُذِّبَتِ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ سَجَنَتْهَا حَتَّى مَاتَتْ، فَدَخَلَتْ فِيهَا النَّارَ، لاَ هِيَ أَطْعَمَتْهَا وَلاَ سَقَتْهَا، إِذْ حَبَسَتْهَا، وَلاَ هِيَ تَرَكَتْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الأَرْضِ»، صحیح البخاري (4/ 177).

- د ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی پیغمبر صلى الله علیه وسلم فرمایلي: «الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ - أَوْ بِضْعٌ وَسِتُّونَ - شُعْبَةً، فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ، وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ»، صحیح مسلم (1/ 63).
- نو پردې اساس په اسلام کې عباداتو ته پاملرنه او د اخلاقي ارزښتونو له پامه غورزول روانه دي.

# د اسلام خصوصيات

خلورم خاصيت وسطيت:

د وسطيت (منځلاري توب ) مفهوم: د افراط او تفريط نه ځان ساتلو ته وسطيت وايې، يا وسطيت د دوو متقابلو اړخونو ترمنځ منځلاري توب ته ويل کېږي، په داسې توګه چې يو لورى په بل اغېزه ونه کړي، لکه دروحانيت اوماديت داخرت او دنيا ترمنځ اعتدال

وسطيت د قرآن کريم په رڼا کې: افراط او تفريط په اسلام کې ځاى نشـته، الله تعالى د اسلامي امت په اړه فرمايلي: {وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا} [البقرة: 143].

- ميانه روي او له کوږوالي څخه لرې والى په قرآن کرية کې په صراط مستقيم سره تعبير شـوى، له همدې امله مسلمانانو ته امر شوى، چې په هر لمانځه کې داسې ووايـې: {اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ} [الفاتحة: 6].
- يهود او نصارى په ډېرو مسايلو کې افراط او تفريط لاره غوره کړه، يهودو پيغمبران وژل، عيسويانو خپل پيغمبر د الوهيت ترمقامه ورساوه؛ اسلام د دوى ترمنځ لاره انتخابوي پيغمبر ته نه د الوهيت درجه وکي او يـې وژني.

# د اسلام خصوصیات

په اسلام کې دمیانه روی نښې: د اسلام په ټولو اړخونو لکه: فکري، عملي، تربیوي، او قانوني برخو کې وسطیت شته:

۱. په عقیده کې

أ- اسلامي عقیده د الحاد او شرک ترمنځ معتدله عقیده ده، نه له الوهیت څخه منکر دي او د بتانو، غواګانو، پسونو، پیشوګانو، کاڼو، او بوټو عبادت کوي.

ب- اسلامی عقیده د هغو خلکو ترمنځ معتدله تګلاره ده چې یواځې د کایناتو مادي وجود تسلیموي چې کوم شیان په حواسو نه معلومیږي د هغو څخه انکار کوي او هغه وګړي چې کاینات غیر حقیقي بولي، اسلام کاینات حقیقي ګڼي او له دې نه وراخوا کاینات په یوه مدبر ذات باوري دی.

# د اسلام خصوصیات

ت- اسلامي عقیده د غربیانو په څیر نه دی چې انسان مطلقه ازادي ورکوي، نه د کمونستان په څیر دی چې هیڅ ډول ازادي نه لري.

ث- اسلامي عقیده داسې نه ده چې پیغمبران دالوهیت ترمقامه رسوي لکه نصرانیان او نه داسې دی لکه یهودیان انبیاء علیهم السلام دنوروانسانانو په څېر ګڼي.

ج- اسلامي عقیده داسې نه دی د پېژندنې وسیله عقل بولي، او نه د هغه چا په څیر دی د وحی او الهام نه پرته بل شي ته اهمیت نه ورکوي، اسلام وحي او عقل ته ارزښت وکوي.

# د اسلام خصوصیات

۲. په عباداتو او دیني شعایرو کې: په عباداتو کې هم له ورایه ښکاري، بداېزم اونصرانیت عبادت له دنیا څخه په تیښته ګڼي، په بدن ګڼ کړاؤنه راولي، یواځې په اخلاقي اړخ ترکیز کوي، اسلام د عباداتو او ترځنګ خلک کار او کسب ته هڅوي، الله تعالی فرمايلي: {فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ} [الجمعة: 10].

۳. په اخلاقو کی د اسلام اعتدال: اسلام دهغو افراطي وګړو ترمنځ منځنی تګلاره ده چې انسان یواځې پرښته صفته هستي مني او یا يې یواځې حیوان بولي، اسلام د انسان مادي او معنوي اړخونه په موازي مخ ته وړي.

٤. په قانون جوړونه کې د اسلام اعتدال: نه د یهودو په څیر تفریط کوي او نه د نصرانیت په څیر افراط کوي، لکه نصرانیان تجرد خوښوي، او یهود شهوت پرستي، اسلام د حلالو او حرامو په ټاکنه کې انسان واک نه لري؛ بلکې دغه دالله جل جلاله صلاحیت دی.

# د اسلام خصوصیات

د اسلام پنځم خاصیت واقعیت: اسلام کومه خیالي او فلسفي نظریه نه ده، چې تطبیقي بڼه ونه لري، اسلام یونیم زرکلن تطبیقي تاریخ لري او د ژوند ټولو برخو ته شامل دی.

- د بشر د فکر محصول نظریه او برنامه محدوده او وهمي وي؛ ځکه د دوی د فکر دایره ډېره محدوده او د ژوند ټولو اړخونو ته لاربښووني نه شي ورکولای.
- د مثال په توګه که مارکسېزم نظریه د اقتصادي برابرۍ او مساوات پرېنسټونو ولاړه وه، هیچاته د فردي مالکیت حق نه ورکول کېده، په داسې حال کې چې د دغې نظریې څښتنانو اته لسېزې په روسیې حکومت وکړ خو هلته هېڅکله هم د حکومتي چارواکو او مزدورانو ژوند سره یوشان نه و.
- د لویدیځوالو دیموکراسي یو خیالي شی چې تل یې د دې شعار تر سیوري لاندې د ملتونو وینې زبېښلي او د هغوی حقوق یې تر پښو لاندې کړي.

# د اسلام خصوصیات

د اسلام واقعیت نښې نښانې:

۱. په اعتقادي برخه کې: اسلام واقعي عقیده نړۍ والو ته سوغات کړې ده، چې د انسان روح ارامولي، د الله تعالی بندګۍ ته خلک رابولي، د کایناتو په تکویني دلایلو او اسماني پیغامونو سره دغه ستر حقیقت په اثبات رسوي.

- قرآن کریم الله تعالی د جمال او جلال په ګڼو نومونو سره ستايي، هغه د بشپړ واک ښښتن، علیم، خبیر او حکیم ذات دی، د کمال د بشپړو صفاتو خاوند او له هر عیب او نیمګړتیا څخه سپیڅلی دی.
- اسلامی عقیده ملتونه د بشر د غلامۍ څخه د خلاصون او د عدالت د نظام لپاره په پیغمبر باندې ایمان راوړلو ته رابولي، پیغمبر انسان وي، خوراک او څښاک کوي، اولاد او مېرمن لري، د ولس په منځ کې ژوند کوي، خوښي اوخپګان پرې راځي اوپه پای کې له فاني څخه رحلت کوي.
- د پیغمبر سیرت، خوی او اخلاق ولسونوته بیلګه وي، د معجزو ښښتن وي په الهي پیغام ورسره وي، ولس ته داسي لارښووني راوړي، چې ټولي سپیڅلي اواغیزې يې د پیروانو په ژوندکې له ورایه څرګندې وي.
- په همدې توګه يې اسلامي عقیده څرګندوي چې د انسان ټول ښه او بد اعمال به محاسبه کیږي.

# د اسلام خصوصیات

۲. **په عباداتو کې د اسلام واقعي نښې:** اسلام د انسان د ژوند وضعیت د کورنۍ ژوند ټولنیز او اقتصادي شرایط په نظر کې نیولی، خپل پیروان یې د راهبانه ژوند څخه ژغورلي دي.

- الله تعالی د انسان د توان او طبیعت په اساس په انسان بدني او مالي لازم کړي، لکه لمونځ او روژه، د هر عمل اندازه او وخت یې ښودلی.
- اسلام د اضطراري شرایطو لکه د سفر، رنځ او داسې نور ظروفو په نظر کې نیولو سره ځینې اسانتیاوې راوستي دي، لکه: په ناسته او اشاره باندې لمونځ کول، تیمم کول، د سفریه حالت کې د لمانځه قصر، د سفر او رنځ په حالت او هم یې بوډا، حاملې او تي ورکوونکې ښځې ته د روژې د خوراک اجازه ورکړې ده.

# د اسلام خصوصیات

٣. **په اخلاقو کې داسلام واقعي نښې:** اسلام ثروت او مادي وسایل له دین سره په ټکر کې نه ګڼي؛ بلکې اسلام فرد او ټولنه مال ته اړمن او د ژوندانه د استقرار او داړه وسیله یې بولي.

- پیغمبرصلی الله علیه وسلم خلک په حلال او پاک مال ګټلو ته هڅولي، نبي علیه السلام فرمایلي: ماته د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د مال او شتمنۍ په څېر د هیڅا مال دومره ګټه نه ده رسولې.

٤. **په تربیتي نظام کې:** د اسلام روزنیز سیستم هم یو واقعي نظام دی، چې د انسان جسمي، فکري او عاطفي ټول اړخونه تر پوښښ لاندې نیسي، داولاد روزنه د مور او پلار په اوږو اچول شوې ده.

٥. **په قانوني اوتشریعي اړخ کې:** اسلام یو داسې قانون له ځانه سره راوړی، چې واقعیتونه په کې په نظر کې نیول شوي، د مثال په توګه حلال او حرام، د کورني نظام تنظیم، ټولنیز نظام، د دولت او حکومت کولو نظم او داسې نور.

# د اسلام خصوصيات

٦. د ازدواج د قوانينو په اړه: اسلام له جنسي غرايزو سترګې نه پټوي، انسان ته اجازه ورکوي د خپلې جنسي غريزې د پوره کولو او د نسلونو د بقاء لپاره نکاح وکړي، همدارنګه د ګڼو ښځو نکاح کول يو واقعيت دی؛ ځکه نارينه زياتره په جګړو کې له منځه ځي، د ښځو شمېره زياتېږي په دې صورت کې ښځه لاندې درې لارې په مخکې لري:

١) داچې دپلار په کورکې به له نکاح پرته ترمرګه ژوند سرته رسوي.

٢) داچې ناروالاره خپله اوفحشاء وته مخه کړي.

٣) داچې له متاهل شخص سره ازدواج وکړي.

- دريمه لاره ډېره عادلانه ده.
- اسلام د ضرورت په وخت کې طلاق ته هم اجازه ورکړې ده.

# د اسلام خصوصیات

۷. د ټولنيزو قوانينو په برخه کې: د سپېڅلې او اسوده ټولنې په خاطر اسلام په اخلاقي روزنې زور اچوي، که چېرته په دې سره هم کار ونه شي، د جرايمو، فسادونو او بې لاريو د مخنيوي لپاره يې د حدودو، قصاص او تعزيراتو قوانين وضعه کړي، الله تعالی فرمايلي: {وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَاأُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} [البقرة: 179].

- د لويديځ قانون مجرمان حمايه کوي، له همدې امله هلته د جرايمو ګراف په لوړه پوړۍ کې قرار لري.

# د اسلام خصوصيات

داسلام شپږم خاصيت شفافيت: داسلام په څېر بل هيڅ دين شفاف نه دی، په اسلام کې غير منطقي عقيده، پېچلي اصطلاحات، منترونه او جادوګري نه شته، داسلام سپېڅلي دين په مطالعې سره يې هر اړخيز شفافيت څرګندېږي.

د اعتقادي اصولو شفافيت: د دغه شفافيت لومړنی وړانګې په الله تعالی، رسالت او د اخرت په ايمان کې ګورو، په اسماني پيغامونو د ايمان مفهوم دادی: مونږ بايد مضبوط ايمان ولرو، چې الله جل جلاله پيغمبران رالېږلي، ترڅو ولسونو ته دحق، دعدل، انصاف او د اخلاقي ظوابطو لارې وښايې ترڅو په دنيا او اخرت کې ورته د برې لار څرګنده او په اخرت کې ورته د بهاني اوعذرځای پاتې نه شي.

- پيغمبران زمونږ په څېر انسانان دي، امتياز يې دا و، چې هغوی ته وحي کيدله، نه خدايان او نه د الله تعالی اولادونه دي.

# د اسلام خصوصيات

د عباداتو شفافيت: د اسلام عملي اركان او عبادات ټولو وګړو ته په بشپړ ډول دي، د اسلام اركان په دغه حديث واضحه شوي: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ "صحيح البخاري (1/ 11)

- په شريعت کې د ټولو عباداتو وختونه، اركان، شرطونه، فرائض، واجبات، سنتونه، اندازه او ټول اړخونه بيان شوي دي.

د اخلاقو شفافيت: په اسلام کې نيک اخلاق لکه: د مور او پلار، يتيمانو، بېوزلو او ګاونډيانو سره نېکي او داسې نور، بد اخلاق لکه: خيانت، وعده خلافي، فريب اودوکه حسد، سود، قمار لوی ګناهونه دي.

- په اسلام کې د ژوندانه اداب شفاف دي، لکه: د خوراک، څښاک، تللو، اغوستلو، د ملاقات او سلام او خبرو اترو اداب اوداسې نور.

# د اسلام خصوصیات

**د قوانينو شفافيت:** داسلامي شريعت قوانين شفاف او ښرگند دي، دلته مو هدف قطعي اصول دي چې په فردي اواجتماعي برخوکې اسلام ټاکلي دي.

- په اسلام کې حلال او حرام وضحه شوي، لکه: د مردارې او خنزير غوښه، شراب، قمار، د غيرالله په نامه ذبحه، له مور، خور، لور او له سببي او نسبي محارمو سره ازدواج حرام دی.
- هر مسلمان پوهيږي چې تجارت حلال او سود حرام دی، قتل، زنا، غلا. ډاکه او په پاک لمنو ښځو تهمت لگول حرام دي، د هر يو لپاره اسلامي شريعت سزاګانې ټاکلي دي.
- مسلمان پوهيږي چې له دين، اسلامی نواميسو او خاورې څخه دفاع فرض ده.
- په نيکيو امر او د بديو مخنيوی د مؤمن مسلمان وجيبه تشکيلوي.

# د اسلام خصوصیات

**د قوانینو د سرچینو شفافیت:** د اسلام ټول قوانین له همدغو مصادرو څخه اخیستل کیږي:

١. **قرآن کریم:** قرآن عظیم الشان الله تعالی په نور، لاربشود، برهان، روښانه دلیل او د حق او باطل ترمنځ د بېلوونکي په نامه معرفي کړی.

٢. **نبوي سنت:** د نبي علیه السلام وینا، کړه وړه او تقریرات په حقیقت کې د کتاب الله عملي تفسیر دی، درسول الله صلی الله علیه وسلم ژوند د قرآن عظیم الشان ژوندی نمونه وه.

٣. **اجماع:** د رسول الله په سپېڅلي دور کې اجماع ته اړتیا نه وه؛ د وحی نزول جریان درلود، مگر د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته اجماع ته اړتیاپیښېدله، د اصحابو کرامو لومړی اجماع د ابوبکرصدیق رضي الله عنه په خلافت وه.

# د اسلام خصوصیات

٤. **قیاس:** قیاس په لغت اندازې ته وایې.

- **په اصطلاح کې:** قیاس د دوو حوادثو د علتونو مساوات ته ویل کیږي، چې په یوې کې صریح حکم موجود وي او په بله کې نه وي. لکه شراب او پوډر، شراب په صریح حکم سره حرام او مشروبات دي البته پوډر مشروب نه بلکې ګاز تشکیلوي علت د دواړو مشترک دی چې عبارت له نیشې څخه دی نو پوډر او چرس په قیاس سره حرام دي.

# د اسلام خصوصیات

د اسلام اووم خاصیت: معقولیت: داسلام سپېڅلی دین عقل مخاطب ګرځوي، د دین په فهم، پوهه او د ځمکې په ابادولو کې پرې اعتماد کوي.

- په همدې توګه په کایناتو کې فکر او سوچ کول عبادت بولي، هر هغه علم ته چې مسلمانان ورته اړتیا ولري لکه: طب، انجیري، زراعت اوداسې نور .... لاسته راوړل یې فریضه او ورڅخه وروسته پاتې والی ستر جرم بولي.

اتم خاصیت: اجتهاد اوتجدید: اسلام خلک اجتهاد ته رابولي، د جمود او وچ تقلید سره مقابله کوي، پرمختګ ته یې هڅوي، اسلام د هر ډول نویو ستونزو حل له ځانه سره لري، کمزورتیا د مسلمانانو په عقلونو، ارادو او تصمیم کې ده، اسلام تر قیامته پورې د خلکو د ستونزو د حل کولو ظرفیت لري.

# د اسلام خصوصیات

نهم خاصیت: دښځې عزت: اسلام د ښځې عزت ساتي، ورته يې حقوق اومسؤليتونه ورکړي، ښځه د لور، مور او مېرمن او د کورنۍ د غړې په توګه پېژني، په عبادت، تعليم او نور ژوند کې پراخه حقوق ورکړي.

لسم خاصيت کورنۍ د تمدن او ملتونو بنسټ: اسلام کورنۍ د ټولنې ملتونو او ولسونو لومړۍ خښته ګڼي، نکاح د کورنۍ بنسټ تشکيلوي، خلک ورته هڅوي او په وړاندې يې اقتصادي خنډونه لرې کوي

يولسم خاصيت: د فرد په روزنې اهتمام: له قانوني تګلارو د مخه اسلام د فرد په روزنه زور اچوي؛ ځکه قوانين ټولنې نه شي جوړولی دوام داره تربيه او عميقه لاربښوونه نسلونه جوړوي، د هر يو پرمختګ او بدلون بنسټ د فکرمن، باضميره او باايمانه صالح انسان جوړول دي.

# د اسلام خصوصیات

دولسم خاصیت: ورورګلوي او وحدت: اسلام مسلمانان ورورګلوۍ، محبت او یووالي رابولي، دلته د ژبو، نژادونو، رنګونو، طبقاتو، مذهبونو توکرونه نه وي، ټول د الله تعالی بندګان او د ادم اولاد دی.

دیارلسم خاصیت: د مذهبي احتکاري څواک نه شتون: اسلام کهانت او د مذهب او دین ټېکه داري نه مني، د حرامو او حلالو ټاکنه شریت کوي، دلته هر څوک دین زده کولی شي؛ خو په دین کې د کمي او زیاتي صلاحیتونه نه لري.

څوارلسم خاصیت: د مشرانو د ټاکنې حق د ملت له خوا بیعت: اسلام مسلمانانو ته د خپلو مشرانو د ټاکنې، هغوی سره د محاسبې، د انتقاد حق ورکړی، اسلامي حکومت په بیعت، شوری، عدل او الهي حاکمیت استوار دی.

# د اسلام خصوصيات

پنځلسم خاصيت: دمال ساتنه: اسلام الهي نعمت ګڼي او د مال حفاظت کوي، مال د ژوند د ملا د شا تير حيثيت لري، د هېواد آبادي او ساتنه پرې کيږي. اسلام فردي ملکيت ثابت کړی او ساتنه يې کوي، اسلام د فردي ملکيت حقوق او واجبات واضحه کړي دي

شپاړلسم خاصيت: د کمزورو وګړو رعايت: اسلام د ټولنې د کمزورو وګړو، کاريګرو، بزګرانو، کسبګرو او ټيټ رتبه مامورينو د حقوقو رعايت کوي، د هغوی اړتياوې د اسلامي دولت مسؤليت ګڼي.

اوه لسم خاصيت: د امت وحدت: د دغه امت رب، پيغمبر، قانون، شر يعت او قبله يوه ده، په همدې اساس د اسلام مبارک دين خلک يووالي او وحدت ته رابولي او د اختلاف غندنه کوي.

# مشهورې فقهي تګلارې

- د عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په دور کې د روم او فارس امپراتورۍ ونړول، د عثمان رضي الله عنه د خلافت په دور کې د اسلامي خلافت دايره ډېره ارته شوه د اطلس له سمندره بيا د چين تر دېواله او د بالکان له هېوادونو د هند تر سمندره دغه خپور ور ملک د اسلام پايګاه وه.
- اصحاب کرام په نړۍ کې خپاره شول، د عجمو په سيمو کې لوی محدثين، فقهاء او نوابغ رامنځته شول، په دوی کې څلور مذهبونه حنفي، مالکي، شافعي، او حنبلي ډېر مشهور شول.
- دوی د اسلامي امت استاذان او د اهل سنت امامان او پېشوايان دي، ، نبوي سنتو څخه يې ملغلرې راوېستلي، د دين په اصولي مسايلو کې يو هم اختلاف نه لري؛
- البته په فروعاتو اولی او غير اولی کې دوی دجلا نظرياتوخښتنان دي، څوک په يوه امام اعتماد لري، څوک په بل د دوی د پيروانو تر منځ مينه او محبت په کار دی نه يو بل ته سپکی سپوری او دښمني.

# مشهورې فقهي تګلارې

- د عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په دور کې د روم او فارس امپراتورۍ ونړول، د عثمان رضي الله عنه د خلافت په دور کې د اسلامي خلافت دايره ډېره ارته شوه د اطلس له سمندره بيا د چين تر دېواله او د بالکان له هېوادونو د هند تر سمندره دغه خپور ور ملک د اسلام پايګاه وه.
- اصحاب کرام په نړۍ کې خپاره شول، د عجمو په سيمو کې لوی محدثين، فقهاء او نوابغ رامنځته شول، په دوی کې څلور مذهبونه حنفي، مالکي، شافعي، او حنبلي ډېر مشهور شول.
- دوی د اسلامي امت استاذان او د اهل سنت امامان او پېشوايان دي، ، نبوي سنتو څخه يې ملغلرې راوېستلي، د دين په اصولي مسايلو کې يو هم اختلاف نه لري؛
- البته په فروعاتو اولی او غير اولی کې دوی دجلا نظرياتوخښتنان دي، څوک په يوه امام اعتماد لري، څوک په بل د دوی د پيروانو تر منځ مينه او محبت په کار دی نه يو بل ته سپکی سپورې او دښمني.

# مشهور فقهي مذاهب

| حنفي مذهب | مالكي مذهب | شافعي مذهب | حنبلي مذهب |
| --- | --- | --- | --- |
| امام ابو حنيفه رحمه الله | امام مالک رحمه الله | امام شافعي رحمه الله | امام احمد بن حنبل رحمه الله |

# مشهورې فقهي تګلارې- حنفي مذهب

۱. حنفي مذهب

د امام ابو حنيفه رحمه الله زوی نيکه په اسلام مشرف شو، له پروان څخه کوفې ته لاړه او هلته کې استوګن شو، هلته ورته الله تعالی د ثابت په نوم زوی ورکړ، په (۸۰هـ) امام ابو حنيفه رحمه الله پيدا او نوم نعمان وه.

د امام ابو حنيفه تولد او پيدايښت

- امام ابو حنيفه رحمه الله په کوفه کې قرآن کريم حفظ کړ، عراق د بېلا بېلو ملتونو ، نژادونو او د بېلا بېلو فنونو، پوهانو مرکز ؤ، نوموړی په يوه تجاره کورنۍ کې را لوی شو، د سوداګريزې مينې سره سره يې علم ته مخه کړه.

امام شعبي ورته وويل: د لوړ استعداد څښتن يې له علم او عالمانو سره ډېر وخت تېروه همدغې خبرې پرې اغېزه وکړه.

- د علم کلام او فلسفې تر څېړنې وروسته فقه ته متوجه شو، تر دغه وخته يې د نحوې او عربي ادب علوم او ډېر احاديث يې زده کړي ؤ.

# مشهورې فقهي تګلارې- حنفي مذهب

**د علم او فقه په ډګر کې:** امام صاحب د کتاب الله، نبوي سنتو او د اصحابو آثارو څخه مسایل راویستل، په کوفه کې د عمر فاروق، على بن ابي طالب، عبدالله بن مسعود او عبدالله بن عباس رضي الله عنهم فقه زده کړې وه.

- امام ابو حنيفه رحمه الله به ويل: د متعلم لپاره د زده کړې درې شرطونه دي:

۱. علمي محيط.

۲. د پوهانو سره ناسته له بېلا بېلو فکرونو خبرتيا.

۳. د يو استاذ شاګردي.

ابن خلدون به د ابن حزم اندلسي - په فقهي څېړونو انتقاد کاوه چې هغه استاد نه درلود. الله تعالى دغه ټول شرايط امام ته برابر کړي ؤ.

# مشهورې فقهي تګلارې- حنفي مذهب

د یو عالم او استاد سره دایمي ملګرتیا:

د هغه دایمي استاد حماد بن سلیمان ؤ، د هغه استاذان ابراهیم نخعي او شعبي وو، د دې دواړو استاذان قاضي شریح، علقمه، قیس او مسروق وو، د دوی استاذ عبدالله بن مسعود او حضرت علی و.

امام صاحب به حج ته زیات تللو په ( ۱۳۰ )هجری کال د کوفې نه مکې ته وشړل شو، شپږ کاله په مکه کې اوسیده هلته د ابن عباس رضی الله عنه د شاګرد انو سره اشنا شو.

ابو حنیفه د استاذ په حیث:

کله چې حماد بن سلیمان په (۱۲۰ه) کال وفات شو؛ نو امام ابو حنیفه رحمه الله د ده په مسند تکیه ولګوله د امام د درس طریقه د سوال او ځواب وه بیا یې وروسته خپل نظر څرګندولو.

# مشهورې فقهي تګلارې- حنفي مذهب

صفات او خوېونه يې: نوموړی معتمد عالم، د ژوندي فکر څښتن، په خپل نفس حاکم، د ظبط نفس خاوند، د ستر روحانيت څښتن، مخلص، حاضر ځوابه او د قوي عقل شخصيت ؤ.

د امام اقتصادي ژوند: سوداګر، د غني او بډای نفس څښتن، سخي، ديندار او زاهد و، بهترين لباس به يې اغوست عطر به يې استعمالول، ژوند يې منظم ؤ.

- د قضاء منصب ورته پېشنهاد شو؛ مګر امام قبول نه کړ په پای کې منصور واکمن زنداني کړ او امر يې وکړ چې هره ورځ يې لس درې وهي تردې چې امام په (١٥٠هـ) کال په زندان کې وفات شو.
- امام ابو حنيفه د وخت حاکم ويلي ؤ: په يو قضيه کې چې د الله تعالی او رسول الله حکم څرګند وي، زه به په قرآن او سنت پرېکړه کوم، ستا درباريان به وايي يا حکم بدل کړه او بيا به دې سيند ته وغورځوؤ، زه به په سيند کې غورځېدل خوښ کړم او فيصله بدلول به غوره نه کړم .

# مشهورې فقهي تګلارې- حنفي مذهب

مسايلو په راويستلو کې د امام تګلاره: هغه به ويل د مسايلو د استخراج لپاره په کتاب الله عمل کوم که مې هلته پيدا نه کړ بيا په نبوي سنتو ته ورګرزم که مې هلته پيدا نه کړ اصحابو کرامو ته رجوع کوم په هغوی کې د هر چا وينا مې چې خوښه شوم پرې عمل کوم؛ خو کله چې خبره ابراهيم نخعي، شعبي، ابن سيرين او حسن بصري ته وګرزي؛ نو هغوی اجتهاد کړی دی زه يې هم کوم د قرآن او سنتو او اصحابو کرامو د رواياتو د نشتوالي په صورت کې قياس ته ورګرزم په اجماع او عرف هم عمل کوم.

- د امام ابو حنيفه په لاس فقه اکبر او د عالم او متعلم رساله او د قدريه ډلې په رد ليکل شوې؛ ليکن د ده علم دده شاګردانو امام ابو يوسف او امام محمد بن حسن الشيباني خپور کړی دی.

د حنفي مذهب پراختيا: د عباسي دولت رسمي مذهب پاتې شوی په عراق، ايران ، افغانستان، او مرکزي اسيا کې خلک ددغه مسلک پيروان دي په همدې توګه د ترکيې دولت رسمي او دولتي مسلک ؤ.

# مشهورې فقهي تګلارې- مالکي مذهب

**مالکی فقه**

امام مالک رحمة الله علیه (۹۳ هـ—۱۷۹هـ)، په مسجد نبوي د حدیثو درس کاوه، نوموړی د دارهجرة و.

**نسب او ژوند یې:** هغه په (۹۳هـ) کال مدینه کې زیږېدلی، مور او پلار یې د یمن د عربي قبایلو څخه ؤ، نیکه یې ستر تابعي ؤ، هغه د عمر، عثمان، طلحه او عایشې رضي الله عنهم څخه روایات نقلوي.

- امام مالک له وړوکتو به د علم زده کړې او د حدیثو روایت ته ټوله پاملرنه راوګرزیده.
- په دغه وخت کې مدینه د شریعت مرکز، د نور سرچینه او د اسلامي حکومت لومړی پایګاه وه د ابوبکر، عمر او عثمان د خلافتونو پایتخت ؤ په اموي دورکې هم د علم مرکز او مرجع وه.
- عمرو بن عبدالعزیز رحمه الله به ښارو نو ته لیکونه لیږل او د نبوي سنتو د تعلیم سپارښتنه به یې کوله؛ مګر د مدینې د خلکو څخه به یې پوښتنې کولې.

# مشهورې فقهي تګلارې- مالکي مذهب

**له علم سره يې مينه:** د قرآن کريم له حفظ وروسته يې د کورنۍ په اجازه علم ته مخه کړه، ربيعه رحمه الله ته لاړ او له هغې يې ديارلس کاله د ابن هرمز سره تېر کړل، او هغه يې خاص استاذ ؤ هغه د قرآن حافظ، محدث او تابعي ؤ هغه د ګڼو اصحابو نه روايات رانقلوي.

**د امام زيار او کوښښ:** هغه ډېر زيار کښ شخصيت ؤ ټولو علماؤ ته ورتللو مالي او ځاني تاوانونه يې قبلول ده د روايت په علم شروع کړې وه دغه د پيغمبر صلى اله عليه وسلم د احايثو او د اصحابو کرامو د فتوا ګانو علم دی بيا يې وروسته پرې خپله فقه بناء کړه.

# مشهورې فقهي تګلارې- مالکي مذهب

استادي يې: امام مالک د مديني منورې د اهل الرايې خلکو په مشوره د تدريس په مسند کښېناست دغه مهال دده استاذ وفات شوی او مالک د پاخه عمر خښتن ؤ د تدريس او فتوی لپاره هغه ځای کښېناست عمر فاروق رضی عنه به کښېناستلو.

- د عبدالله بن مسعود په کوټه کې اوسېده امام مالک.
- د امام ابو حنيفه په شان د تدريس په خاطر تل په مسجد کې پاتې نه شو ؛ بلکې د خپلې ناروغی په مهال يې درس ځای کور ته انتقال کړ.

امام مالک دوه مجلسونه درلودل:

١. حديث تدريس.
٢. د پوښتنو او فتوی په اړه ؤ په درس او فتوی کې به امام بې فايدې خبرې نه کولې.

# مشهورې فقهي تگلارې- مالکي مذهب

صفات او خوبونه يې

١. د قوي حافظې څښتن ؤ: يو ځلې يې يودېرش حديثه له ابن شهاب زهري نه واورېدل ليکلي يې نه ؤ ټول يې خپل استاذته تکرار کړل.

٢. صبر او تحمل: د علم په لار کې يې د فقر سره مبارزه وکړه او خپل شاگردان صبر ته هڅول

٣. اخلاص: د علم په حصول کې يې اخلاص درلود، په فتوی کې يې تلوار نه کاوه، په دين کې يې د بې ځايه بحث څخه ځان ساته.

زېرکتيا او فراست يې: ډير زېرکه، هوښيار او روان پېژدونکی شخصيت و، امام شافعي رحمه الله وايي: مديني ته ولاړم، له امام مالک سره مخامخ شوم، زما خبرې يې واورېدلې او په دقت يې راته وکتل، بيا يې زما دنوم پوښتنه وکړه، بيا يې راته وويل: دالله تعالی نه ووېرېږه د گناه څخه ځان ساته ته به په راتلونکي کې د لوی شان او شخصيت څښتن شې

# مشهورې فقهي تګلارې- مالكي مذهب

**هيبت او وقار يې:** امام ډېر مهذب شخصيت ؤ واليان او د وخت حاكمان به ورځخه وېرېدل زيات علم، ظبط نفس او ښه مظهر دده شخصيت لوړ كړی ؤ

**د معيشت موارد يې:** ابن القاسم وايې: امام څلور سوه ديناره درلودل، سوداګري يې كوله د هغې په وسيله اعاشه كېده په پيل كې يې ژوند تنګ ؤ مګر وروسته پرې پراخي راغله.

- د وخت د مشرانو او حاكمانو بخششونه به يې منل، ښه يې خوړه او ښه يې اغوستله هر سهار به يې جامې په تن كولې او لنګۍ به يې تړله په ښه مظهر سره بېرون راوتلو.

**امام او د وخت حاكمان:** په عملي سياست كې يې لاس نه واهه، نه يې د حكومتونو پر ضد راپاڅېدلی او نه د حاكمانو تر څنګ ولاړ ؤ، نه يې خلک فتنې ته رابلل او نه يې د ظالم سره مرسته كوله.

# مشهورې فقهي تګلارې- مالکي مذهب

**د امام فقه او حدیث:** فقیه او محدث ؤ، احادیث یې د روایانو پر بنسټ انتخابول د امام مالک د حدیث سند ترټولو غوره سند دی، امام بخاري رحمه الله وایې: تر ټولو ثقه روایت د مالک عن نافع عن عبدلله بن عمر دی.

**د امام تګلاره:** نومورې لومړی په کتاب الله، بیا په سنتو، بیا د اصحابو کرامو فتوی، بیا د مدینې د خلکو عمل، و وروسته یې په قیاس، مصالح مرسله، سد ذرایع، عرف هم شامل و، البته امام په خبر واحد د مدینې د خلکو عمل وړاندې کوي

**د امام علمي اثار:** د امام رســالې د هغه شاګردانو په کتابونو کې ترتیب کړي، المجالسات، په قضاء او قدر کې او په فتوی کې یې یوه رساله لري، خو تر ټولو مشهور کتاب یې الموطا دی.

**د مالکي مذهب پراختیا:** په حجاز کې خپور شو په مصر، تونس، اندلس د امام شاګردان دلته ډیر اوسېدل؛ نو هلته هم خپور شوی دی.

# مشهورې فقهي تګلارې- شافعي مذهب

زېږېدنه او نسب: امام شافعي په (۱۵۰هـ) کال د فلسطين په غزه کې زېږېدلی، پلار يې قريشي او د نسب لړۍ يې بنی المطلب ته رسېږي، امام په زانګو کې ؤ چې پلار يې وفات شو، مور يې استوګنه غوره يې کړه.

- په لس کلنۍ کې قرآن کريم يې ياد کړ، په مکه کې يې د حديثو په زده کړه پيل وکړ، عربي ژبه او غشي وېشتل يې زده کړل.

د امام مالک په سيورې کې پالنه: په شل کلنۍ کې يې فتوی ورکولې او حديث يې بيانول، د امام مالک موطاء مطالعه کړه، مديني ته د امام مالک ملاقات ته لاړه، د هغه سره يې په کور کې ملاقات وکړ، امام مالک چې وليد ډېر د نبوغ شخصيت يې په کې له واريه وکوت.

دولتي وظيفه: په يمن کې د نجران والي هم پاتې شوی؛ مګر د عراق فقيه امام محمد بن الحسن الشيباني له ځان سره بغداد ته بوتلو دغه موده دوه کاله وه هغه پوره شل کاله په علمي چارو بوخت شو اوس د مستقل نظر خښتن شو او خلکو ته د استنباط قوانين وړاندې کړل.

# مشهورې فقهي تګلارې- شافعي مذهب

امام د مصرپه لور: بغداد پرېښود مصر ته وخوځېد، چې حاکم يې قريشي او عباسي ؤ، هلته د مال او ثروت خښتن شو ځکه د رسول الله د ذوی القربی سهم ورکول کېده هلته يې فقه او اراء خپاره شول او هلته وفات شو .

صفات او خويونه يې: د قوي علمي ادراک خښتن ؤ، ښه حافظه يې وه، موطاء يې په لوستلو ياده شوه، هوښيار، مخلص، د ژوندي فکر، د قوي بيان او روښانه تعبير خښتن ؤ، فصيح، د قوی زړه او موثر غږ الله تعالی ورکړی ؤ.

فقهی منابع او سرچينې يې: امام شافعي رحمة الله عليه خپله فقه د پنځو مصدرونو څخه اخيستې وه هغه وايـي علم مختلفې طبقې لري: لومړی طبقه کتاب الله او ثابت سنت دي، دويمه طبقه اجماع ده، درېيمه طبقه د اصحابو اتفاقي قول، څلورمه طبقه د اصحابو اختلافي قول، پنځم قياس دی؛ البته د قرآن او سنتو په وجود کې بل شي ته حاجت نشته

د مسلک خپرېدا يې: دغه مذهب په مصر او عراق کې هم خپور شو، د درېيمي هجري پېړۍ په پای کې شافعي مذهب مرو او خراسان ته هم نقل شو.

# مشهورې فقهي تګلارې- حنبلي مذهب

**حنبلي فقه:** د خلق القرآن په مسئله کې په زنځیرونو وتړل شو، ۇ په قمچینو ووهل شو او اته ویشت میاشتې په زندان کې تېروي له زندانه راوزي بیا یې درس پیل بیا زندان ته لاړ او د د درس نه یې منع کوي.

**تولد او پیدایښت یې:** امام په (۱٦٤ه) کال په بغداد کې پیدا شوی. هلته یې زده کړه او تدریس وکړ، او شهرت پیدا کړ.

- مور او پلار یې عرب د شیبان د قبیلې ۇ، پلار یې د لښکرو قوماندان تېر شوی.
- حنبل یې نیکه دی په اصل کې د خراسان استوګن او خراسان والي ۇ.
- احمد کوچنی ۇ چې پلار یې په دېرش کلنی کې وفات شو، مور یې یې زده کړی ته وهڅوه، قرآن کریم یې په کوچینوالی کې حفظ کړ بیا یې عربي ژبه، حدیث او د اصحابو آثار او سیرت ولوست له وړوکوروالی د نبوغ نښې په کې وې.

# مشهورې فقهي تګلارې- حنبلي مذهب

د امام زده کړه: تر ټولو دمخه يې ديني علوم، نبوي احاديث او بيا فقهې ته مخه کړه، د صبر، تحمل او تقوی لوړ خلی ؤ.

- په پنځلس کلنۍ کې يې حجاز، بصرې، کوفې او يمن ته د سفرونو وکړل، د امام شافعي، عبدالرزاق بن همام څخه يې حديثونه زده کړي، دسترې حافظې څښتن ؤ، په فارسي ژبه هم پوهېده.
- تدريس او فتوی يې په څلوېښت کلنۍ کې پيل کړه، د تقوی په وجه مشهور شو، په درس کې يې ډېر لوی ازدحام جوړ شو، د هغه په مجلس کې وقار، ارامي، تواضع د اطمينان او سکون سره ملتيا درلوده.

اقتصادي وضعيت يې: امام فقير اومحدود ژوند درلود، د نورو د احسان او بخشش نه نفرت درلود، ځنې وخت يې مزدوري کوله او په خپل لاس يې روزي پيدا کوله، هغه په يمن کې پرتوګاښونه اوبدل اود روزۍ وسيله يې برابروله هغه د واليانو او حاکمانو بخششونه نه اخيستل هېڅ دولتي وظيفه يې نه ده قبوله کړې.

# مشهورې فقهي تګلارې- حنبلي مذهب

صفتونه اوخانګړتیاوې یې: نوموړی هغه قوي او حافظې د ژور فهم څښتن، د صبر، تحمل، قوي ارادې، عزم او لوړهمت خلی و، د قوي زړه خاوند، متواضع شخصیت، پاک نفسه، زاهد او مخلص انسان و، د ریاء څخه یې نفرت درلود، مهذب او باوقاره شخصیت و، هغه به همېشه جدي ؤ، ټوکې یې نه کولې، د حسن معاشرت او روښانه څېرې څښتن ؤ.

د امام احمد فقه: هغه د نبوي احادیثو امام او فقیه هم دی هغه په قرانکریم ، نبوي سنتو ، د اصحابو په اثارو اجماع او قیاس ،مصالح مرسله اواستحسان عمل کاوه همدارنګه یې د سد ذرایع او استصحاب څخه کار اخیسته.

د حنبلي مذهب پراختیا: د دې مذهب پیروان په نسبي ډول کم و، حنبلیان متشدد خلک ؤ، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په نامه یې تشدد کاوه، یوازې دال سعود د کورنۍ په دور کې دا مذهب په عربستان کې خپور شو.

# تصوف پیژندنه

تصوف: له صفا او سپیڅلتیا څخه عبارت دی، په دغه مسلک کې هم د زړونو په تصفیه او تزکیه باندې ترکیز کیږي.

- یا: په پیل کې د دغه مسلک څښتنانو وړین لباس اغوسته؛ نو ځکه یې صوفیان یعنې وړین پوشان بولي.
- په هرچا کې ښه او بد وي ټولې تګلارې ته بد رد ویل به له انصافه وتلې خبره وي؛ البته مونږ د تصوف د تګلارو په مشرانو کې په علم ترکیز کوو، شیخ باید عالم او د شریعت پابند وي، جاهل صوفیان دین ته ډېر زیان اړوي او په بدعاتو سروي حق او باطل نه پیژني ددغه مسلک د بد نامولو لامل هم دوی دي.

مترادفه اصطلاح یې: په قرانکریم کې یې مترادف لفظ تزکیه ده، د تزکیې لپاره ټولو پیغمبرانو علیهم السلام خوارۍ کړې، ترڅو د انسانانو زړه او فکر تصفیه نه شي په عملي ژوند کې بدلون نه شي، الله تعالی فرمايي: {هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ} [الجمعة: 2].

- پیغمبران علیهم السلام بدلون له زړونو پیلوي اود ژوند په ټولو اړخونو ، ټولنې ، اخلاقو ، سیاست . اقتصاد ، نړۍ والو اړیکو او داسې نورو برخوکې بدلون راولي.

# تصوف پیژندنه

**په نبوي سنتو کې د تصوف مترادفه اصطلاح:** په نبوي سنتو کې ورته احسان ویل شوی: «الْإِحْسَانُ: أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ». صحیح مسلم (1/ 37)

**پیدایښت یې:** د نبوت او راشد خلافت په مبارک دورکې دیني او سیاسي قیادت یو ؤ، دراشده خلافت تر ړنګېدا وروسته سیاسي او دینی قیادت سره جلا شول، په حاکمه طبقه کې د دنیا پالني مظاهر را څرګند شول.

- د څلورمې هجري پیړۍ په پیل کې ځنو مشایخو له دنیا سره د بې رغبتۍ او د زهد اوتقوی په لوري د تصوف او طریقت تګلارې خپلې کړې، چې په هغه کې اذکار، نوافل او روژې هم شاملې وې، ترڅو یو شخص د شیخ او مربي مرتبې ته ورسیږي او په ولسونو کې د مادیاتو او دنیوي لذتونو په لوري د میلان ګراف راټیټ او اخرت ته یې پاملرنه زیاته شي.

# تصوف پیژندنه

تصوفي بېلابېلي تګلارې: په اسلامي نړۍ کې د مريدانو او طالبانو د روزنې لپاره بېلا بېلې تګلارې رامنځته شوې چې په لاندې توګه بيانېږي:

١. ځنو مشايخو د خپلو شاګردانو او مريدانو لپاره سخت رياضتونه په نظر کې نيولي ؤ، لکه: ډېرې روژې نيول، ټوله شپه وينښه په عبادت کې تېرول، له خلکو ګوښه اوسېدل ډېر ذکر او فکر.

٢. ځنو د خپلوشاګردانو د روزنې لپاره نرمه پاليسي - غوره کړې وه، دوی ته يې په لږو روژو، د شپې په يوه برخه د تهجد په لمانځه، زيات ذکر او فکر او له خلکو سره په ناسته پاسته او هغوی ته په نصيحت امر کاوه.

٣. ځنو د دې دواړو تګلارو ترمنځ نوره اسانه لاره غوره کړې وه

- دغو بېلا بېلو مشايخو جلا امتيازي نښې او جنډې درلودې، د مثال په توګه: رفاعي طريقې تور پرچم درلود. قادريه طريقې شين بيرغ او ځنو نورو سور، برهاني طريقې دری رنګه بيرغ. د سوقي طريقې زېړ او شاذلي طريقې شين بيرغ درلود.

# تصوف پېژندنه

تصوف ډولونه: تصوف په دوه ډوله ده:

۱. خلکو ته د زهد او له دنیا څخه د بې رغبتی تقوی، د رسول الله مبارک نه د ماثورو (د نقل شویو ) اذکارو او په سنتو د عمل کولو درس ورکوی، په همدې معنی او مفهوم باید هر مسلمان ذاکر او زاهد واوسي.

۲. بل فلسفي تصوف دی: چې د وحدة الوجود، حلول، اشراق (د عباداتو د ضرورت نشتوالی) او یوازې د زړه د پاکوالي په مشرکانه فلسفې ولاړ دی، کټ مټ همدغه ډول تصوف په هندوئېزم، رهبانیت ، نصرانیت ، بودایت . کنفوسشزم او زردشتیزم او نورو فلسفوکې وجود لري.

- دغه ډول تصوف په اسلام کې ځای نه لري، د اسلام حقپالونکو علماؤ تل د هغه له خطر څخه مسلمانان وېرولي دي.

# تصوف پیژندنه

خرافاتي صوفي اسلام، امريکا او غرب ته مطلوبه تګلاره:

چيريل بېنارد امريکايي مستشرق دغه تګلاره په دې ډول څرګندوي او ليکي: صوفي تګلارې ته بايد ډېر اهميت ورکړی شي، هغه هېوادونه چې صوفيانه تاريخ او فرهنګ لري د اسلام صوفيانه فهم او پوهې ته دې په تعليمي نصابونو کې ځای ورکړ شي، تر څو خلک صوفيانه اسلام ته وروبولي.

نومورې زياتوي: صوفيان د اسلام په اړه يو آزاد فکر او تعبير لري، په کارده چې په افغانستان او عراق کې خلک ورته وهڅول شي دخپلو صوفيانه اشعارو او موسيقۍ له لارې د بېلا بېلو دينونو ترمنځ د وصل کېدو قوي پلونه وغځوی.

- د امريکايانو له راتګ سره سم د افغانستان او سيمې په لويو او وړو ښارونو کې د خرافي زيارتونو بازارګرم شو، له منجاورانو او ملنګانو سره د دين په هکله تلويزوني مرکې کېدلې، د اطلاعاتو او کلتور وزارت دغه دنده سرته رسوله قبرونه، د بودا د بت د ترميم او د درباروno جوړولو ته پوره پاملرنه وشوه، حکومت په بلخ او کابل په سخي کار ته کې په خرافي زيارتونو ملنګی، چرسيتوب، موسيقی ،ګدا، او نڅا ډېرې اسانتياوې برابرې کړې.

# تصوف پیژندنه

- یونسکو ( ۲۰۰۷ م ) کال د جلال الدین بلخي په نامه ونوماوه، همدغه کار په پاکستان او بنګال کې انګریزانو سرته رسولی ؤ، د بدعاتو او خرافاتو مزارونه او دغسې ناوړه بې دینه ډلې اوس پالي، مګر د تاریخ په اوږدوکې بیا حقپالو په پیغمبري تګلارې برابر صوفیانو انګریزانو ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړې وې په افغانستان کې نجم الدین اخندزده او چکنور ملا صاحب په کوزه پختونواکې د ترنګزو حاجی او شیخ حاجي محمد امین صاحب هغه ستر مجاهدین دي چې اتلولي یې د تاریخ په تنده په زرینو کرښو لیکل شوي ده.

د طریقت لومړی وطن: د لومړي ځل لپاره په کوفه کې د ابوهاشم کوفي له خوا په (۱۵۰ھ) کال رامنځته شو، بیا په (۴۳۰ھ) کال ابو سعید په ایران کې د طریقت خانقاه جوړه کړه؛ څکه وروسته عبدالکریم قشري چې په (۳۷٦ھ) کې زیږېدلی خپله رساله په همدغه نوم لیکلې ده، هغوی پنځمه او شپږمه پېړی کې له ایران نه هندوستان او عربي هېوادونو ته سفر کړی او هلته یې شاګردان او مریدان پیدا کړي دي.

# تصوف پیژندنه

یو څو مشهورې صوفیانه تګلارې: په اسلامي نړۍ کې تصوف بېلابېلې طریقې لري مونږ به یوڅوتر څېړنې لاندې ونیسو:

۱. قادریه طریقه: ددغې طریقې نسبت شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله ته کېږي چې د( ۴۷۱-۵۶۱هـ) کې ژوند کاوه، د ده پیروان په عراق، مصر، شام، افریقا او سوډان کې دي، د اسیا او افریقا په وچه کې د اسلام د خپرونې او په عربي هېوادونو کې د اروپايي استعمار سره په مقابله کې د شیخ پیروانو ستر رول درلود دوی په لسانی ذکر ترکیز کوي.

۲. نقشبندیه طریقه: ددې طریقې نسبت شیخ بهاوالدین چې په شاه نقشبند سره یې شهرت درلود په افغانستان، هندوستان، ایران، سوریې او کردستان کې پیروان لري، ددغې طریقې د سترو مشایخو د جملې څخه شیخ احمد سرهندي رحمه الله هم دی، ده ته د دولسمې هجري پېړۍ د مجدد لقب هم ورکړی شوی.

- دوی په قلبي ذکر او توجه ترکیز کوي، همدغه په افغانستان، هندوستان، او مرکزي اسیا کې رواج وي.
- البته دلته نورې طریقې دي لکه: مولوي طریقه چې د دوه طریقو نسبت جلال الدین رومي ته کېږي، په ترکیې او د اسیا په غرب کې رواج دي، دوی د ذکر په حلقو کې رقص کوي، چې سراسر ناروا او بدعت دی.
- شاذلي طریقه: چې په الله هو سره ذکر کوي په خپلو حلقو کې اشعارهم لولي چې مریدان په جوش راولي.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

**يهوديت پېژندنه:** يهوديت د هغو عبرانيانو له دين څخه عبارت دی، چې د ابراهيم عليه السلام له ځوځات څخه دي، دوی د موسی عليه السلام امت او د لاربښوونې لپاره يې اسماني پيغام تورات نازل شوی ؤ.

**بنسټ او بارز شخصيتونه:**

- موسی عليه السلام د مصر د فرعون دويم رعمسيس په وخت (۱۳۰۱ق م) په مصرکې زېږېدلی ؤ.
- د مصر واکمن د بني اسرائيلو د زامنو د ذبحه کولو پرېکړه صادره کړې وه.
- موسی عليه السلام د فرعون په شاهي ماڼۍ کې د يو با احساسه زلمي را لوی شو، د ځوانۍ پر مهال يې عسکري ټرېننگ هم کړی ؤ او په يوه پلاوي کی حبشې ته د يو سياسي هيئت مشري يې هم کړې وه.
- يو قبطي باندې د اسرائيلي د ظلم له امله قبطي يې په سوک وهي او هغه وژل کيږي.
- موسی عليه السلام مدين ته پناه وړې وړه، هلته يې له شعيب عليه السلام سره لس کاله د شپونکي په توګه تېرکړل هغه ورته خپله لوربه نکاح ورکړه مصر ته د راستنېدو په مهال د سينا په ټاپووزمه کې پرې الله جل جلا له وحی نازل کړه.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانى اومعاصره بڼه

- موسى او هارون عليهما السلام دواړه په (۱۲۱۳ق م) فرعون ته د دعوات لپاره لاړل، هغه دعوت ونه مانه، په نيجه کې ده بني اسرائيل له ځان سره کړل، فورعون د لښکر سره يوځاى وريسې شو، فرعون په اوبو کې غرق کړ اوموسى عليه السلام او د هغه قوم ته الله تعالى نجات ورکړ.
- موسى عليه السلام او قوم يې د سيناء په بېدياکې دېره شول، موسى عليه السلام د طور غره لاړ ترڅو د الله تعالى خبرې وکړي او تورات ورکړي.
- کله چې قوم ته راستون شو؛ نو هغوى ته سامري خوسکى جوړ کړى و او قوم يې کبادت کاوه.
- وروسته دوى د خوراکونو غوښتنه وکړه؛ نو الله تعالى دوى ته فلسطين ته د ننوتلو امر وکړ، دوى ورته وويل چې هلته يو ظالم قوم دى ته د خپل رب په مرسته هلته ورشه مونږ دلته ناست يو. الله تعالى ورته غوسه شو، ځلويښت کاله يې لالهانده په دښته کې پرېښودل، په دې دوران کې موسى او هارون عليهما السلام وفات شول.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

- د موسی او هارون علیه السلام وروسته یوشع بن نون نوی نسل وروزلو او د خپل ولس مشري یې پرغاړه واخیسته او بني اسرائیل یې د اردن د ختیځې لارې ښخه اریحا ته دننه کړل.
- یوشع په (۱۱۳۰ق م) وفات شو. په دغه مهال صمویل شاول، چې قرآن عظیم الشان یې طالوت بولي. پر دوی باندې پاچا شو هغه دوی د خپلې شاوخوا سختو جګړو ته سوق او په خپله یې د جګړو قیادت کاؤ.
- پردغه مهال داؤد علیه السلام چې د ده د لښکریانو د جملې څخه ؤ. په یوه نښته کې یې د فلسطینیانو قاید جالوت وواژه او پرې غالب شول.
- الله تعالی داود علیه السلام ته نبوت او قیادت وسپاره، ده د القدس هیکل جوړ کړ او تابوت یې هلته انتقال کړ.
- حکومت یې څلویښت کاله دوام وکړ، ترده وروسته یې زوی سلیمان علیه السلام راغی. هغه د ټولې نړۍ واکمن شو.
- په (۱۸۷۹م) کال د فلسطین په ځمکه اسرائیلي دولت جوړ شو او د صیهونېزم ترنامه لاندې د یهودانو نوی خوځښت پیل شو .

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

**اخترونه:** دوی ګڼ اخترونه لري لکه:

**د نجات ورځ:** دا د یهودیانو د یادګار ورځ ده، چې په همدې ورځ دوی له مصره راووتل، دا د اپريل له څوارلسم ماښام څخه پیل کیږي او په یوویشتم ماښام پای ته رسیږي، چې خواړه يې پتیره ډوډۍ وي.

**د بخښنې ورځ:** د یهودي کال په لسمه میاشت یو شخص بېرون نه وځي یواځې په عبادت لګیاوي، روژه نیسي په لسمه ورځ نه خوراک کوي، نه څښاک ټول وخت په عبادت کې تېروي ترڅو يې ګناهونه وبخښل شي.

**دبیت المقدس زیارت:** په هر یهودي د بیت المقدس زیارت لازم دی.

**نوې میاشت:** د هرې نوې میاشتې په راختلو غونډې جوړوي په بیت المقدس کې شپېلۍ وهي او اورونه بلوي.

**د هفتې ورځ:** د دوی د عبادت ورځ ده.

**د یهودو په نزد اله (خدای):** یهود کتابیان او بتپال نه دي، دوی له مصره تر وتلو وروسته خوسکی معبود ونیو، د دوی په نزد افعی مار سپېڅلی دی او د هوښیارتیا نښه يې بولي.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانى اومعاصره بڼه

خدای: د دوی په عقیده نوم يې يهوه دی دوی معتقد دي چې هغه خطا او هيجاني کيږي، سخت زړی او متعصب دی او دا يواځې د بني اسرائيلو (اله ) دی د وړبخوپه عمود او ستنو کې روان وي.

عزار: دا هغه شخص دی چې د موسی تورات يې له ورکيدو وروسته پيدا کړ دوی د الله جل جلاله د زوی په توګه ونوماوه قرآن کريم يې عزير بولي.

ثو اب او جزا: دوی وايي چې ثواب او جزا په دنيا کې ترسره کيږي.

تابوت: دا هغه صندوق دی، چې دوی په کې قيمتي شيان، تړونونه او مقدس کتابونه ساتل، همدارنګه د موسی عليه السلام امسا او پڼې د سينا دښتې د (من) داني هم په کې وې.

هيکل: هغه ودانۍ ده، چې داود عليه السلام يې د جوړښت امر کړی و او سليمان عليه السلام تکميل کړی وه، دننه يې محراب او هغه ځای تيار کړی چې تابوت په کې ايښودلای شي.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانى اومعاصره بڼه

**ددوى مقدس کتابونه:**

**تورات:** د لغت له پلوه تورات عبراني تورى دى، د شريعت په معناء راځي د يهوديانو په اصطلاح کې د موسى عليه السلام د پنځو سفرونو له يونليکونو څخه عبارت دى، چې نوموړي په خپل لاس کښلي عبارت دى.

١. سفر التکوين
٢. سفر الخروج
٣. سفر اللوايين اوالاخبار
٤. سفر العدة
٥. سفر التثنيه

د اسلامي نړۍ د زياتره پوهانو په اند تورات هغه کتاب دى، چې الله تعالى جل جلاله له لوري په موسى عليه السلام نازل شوى دى دا کتاب د هغه وخت د خلکو لپاره هدايت و اوس د قرآن کريم دور دى.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

په تورات کې بدلون: د اسلامي نړۍ ټول علماء او څېړونکي په دې اند دي، چې تورات کې د معنی او حروفو دواړو تحريف موجود دي، له شماره بېرون ډېر داسې شواهد شتون لري.

د يهوديانو د اعتقادي انحراف بېلګې: يهوديان دحضرت موسی عليه السلام په ژوندانه هم له اعتقادي انحراف سره مخ ول

۱. د موسی عليه السلام په غياب کې يې د خوسي عبادت شروع کړ.
۲. الله تعالی سره يې شرک وکړ خپل پوهان او مذهبي مشران يې په الوهيت ونيول.
۳. الله تعالی ته د ځوی نسبت: دوی حضرت عزيز عليه السلام د الله تعالی ځوی وباله.
٤. دوی خپل ځان ته بډايان او الله تعالی ته يې د فقر نسبت وکړ.
٥. الله تعالی ته يې د بخيل نسبت هم وکړ.
٦. موسی ته يې ويلي ؤ، ترڅو چې مونږ ته الله څرګند راونه ښايې مونږ ستا پيغمبري نه منو.
٧. الله تعالی ته د ستړيا نسبت: د يهودو وينا چې د اسمانونو د پيدايښت نه وروسته الله تعالی ستړی شوی دی
٨. د پيغمبرانو وژل او تنګول، په پيغمبرانو کفر او تکذيب کول، د محمد صلی الله عليه وسلم د راتلو نه مخکې يې د رسول الله راتللو لپآره دعاګاني کولې؛ مګر رسول الله عليه السلام مبعوث شو کفر يې پرې وکړ.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

په تورات کې بدلون: د اسلامي نړۍ ټول علماء او څېړونکي په دې اند دي، چې تورات کې د معنی او حروفو دواړو تحریف موجود دي، له شماره بېرون ډېر داسې شواهد شتون لري.

د یهودیانو د اعتقادي انحراف بېلګې: یهودیان دحضرت موسی علیه السلام په ژوندانه هم له اعتقادي انحراف سره مخ ول

١. د موسی علیه السلام په غیاب کې یې د خوسي عبادت شروع کړ.
٢. الله تعالی سره یې شرک وکړ خپل پوهان او مذهبي مشران یې په الوهیت ونیول.
٣. الله تعالی ته د ځوی نسبت: دوی حضرت عزیز علیه السلام د الله تعالی ځوی وباله.
٤. دوی خپل ځان ته بډایان او الله تعالی ته یې د فقر نسبت وکړ.
٥. الله تعالی ته یې د بخیل نسبت هم وکړ.
٦. موسی ته یې ویلي ؤ، ترڅو چې مونږ ته الله څرګند راونه ښایې مونږ ستا پیغمبري نه منو.
٧. الله تعالی ته د سترړیا نسبت: د یهودو وینا چې د اسمانونو د پیدایښت نه وروسته الله تعالی سترړی شوی دی
٨. د پیغمبرانو وژل او تنګول، په پیغمبرانو کفر او تکذیب کول، د محمد صلی الله علیه وسلم د راتلو نه مخکې یې د رسول الله راتللو لپآره دعاګاني کولې؛ مګر رسول الله علیه السلام مبعوث شو کفر یې پرې وکړ.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

د ملايکو په هکله: دوی جبریل او میکائیل دښمن بولي، د عیسی علیه السلام د وژلو تصمیم، سود او حرام خوړل د الله تعالی په کتاب کې تحریف، خیانت غدر او دوکه، کینه اوحسد، د جګړو او ربلول، سخت زړي توب او له مسلمانانو سره ټینګه دښمني لري.

په اوس وخت کې د یهودیانو اهداف: ننني اسرائیلي دولت چې د فلسطین په یوه ټرانګه کې پروت دي لاندې مقاصد لري:

۱. د یواسرائیلي دولت تشکیل، چې مرکز به یې د قدس ښار او په ټوله نړی به حکومت چلوي.

۲. د نړۍ په ملتونو حکومت کول او هغوی خپل خدمت ته چمتو کول.

۳. د مسلمانانو په نسبت پرېکړې کول

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

دغو اهدافو ته درسېدو وسايل

- دوکه بازي، چل د زور او قوت استعمال او د خلکو وېرول.
- د ملتونو او ولسونو ترمنځ محلي شخړې رامنځته کول، ترڅو خلک د دوی په قبضه کې اوسي.
- روغتونونو، مکاتبو او تعلیمی مرکزونو کې پیمخي ښایسته ښځې استخدامول.
- نړی وال اعلامي سیاست پلې کول، سیاسي بیلاریتوب رامنځته کول.
- شرکتونه، بانکونه او اقتصادي پروژې تر خپل تصرف لاندې راوستل.
- د نړوونکو نظرياتو او اساساتو خپرول.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

**د ماسونيت پېژندنه:** دا يو يهودي پټ او مرموز غورځنګ دی، چې د يهودي ګټو د تحقق لپاره په پټه توګه کار کوي او د ستر اسرائيلي دولت د قيام لپاره زمينه برابروي.

**د نومېدو لامل:** دغه د دغه تنظيم دمؤسيسنو څخه د يو تن نوم دی، چې په لاتيني ژبه کې معنی آزاد جوړونکی دی، او ګمان يې کاوه چې دی به د سليمان هيکل جوړوي او هغه به په نړۍ کې د يهودود حاکميت رمزوي.

**شعارېې:** دوی دروغژن شعار زم زمه کوي چې له ازادۍ مساوات او وروږګلوۍ څخه عبات دی.

**موخې:** د نړۍ وال يهوديت يوه موسسه ده، د دغه لاندې موخو لپاره کار کوي.

- د نړۍ والو لادينه جمهوريتونو تاسيسول، چې د يهودو تر حکم لاندې به وي.
- له يهوديته پرته له نورو دينونو سره مقابله.
- نهايی هدف يې د ستر يهودي دولت قيام دی.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

**وسايل اواسباب**

- ځوانانو ته دلوبو، شهوت پالنې، مسکراتو او فحشاؤ وسايل برابرول.
- د نړۍ په سياسي ډلو کې شموليت او نفوذ.
- د حريت، آزادۍ او مساوات د شعارونو د ټولنو تاسيس.
- د مفکرينو، اديبانو، ژورنالستانو او فنکارانو جذبول.
- په محافلو کې د ماسوني افکارو لپاره تبليغ.

**د ماسونيت کلپونه**

١. د بنای برت کلب: په (١٨٣٨م ) د نيويارک په ښار کې تاسيس شو، د نړيوال ماسونيت ټينګ ملاتړ کوي.
٢. ليونز کلب: د زمريو کلب معنا ورکوی مرکز يې آمريکا کې دی ډېر پټ کار کوي.
٣. روتاری کلب: د ظاهري زحمت، پټ عذاب په معنا سره ده دا هم د امريکا د شيکاګو ايالت کې دبول هارس په لاس تاسيس شو، د يهوديت لپاره پراخه کار کوي.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

**د صيهو نېزم پېژندنه:** دا يهودي تنظيم دی، د بنی اسرائيلو د تېر برم د راستنېدو لپاره کار کوي.

**د نوميدلو لامل:** په بيت المقدس کې د صيهون غره ته منسوب دی، يهوديان يې مقدس غر بولي د ماسونيت او صيهونيت څخه مطلب دادی چې صيهونت يو ښکاره؛ مگر ماسونيت پټ الحادي غورځنگ دي.

**تاريخچه:** ننني صيهونيت په (١٨٠٦م) کال چې کله ناپليون د يهودو د مرستې لپاره شورى راوغوښتله منځته راغلی.

موخې او اهداف: صهونېزم دوه ډوله اهداف لري يوديني اوبل سياسي

**الف- ديني:**

١. د يهوديانو ترمنځ ديني ولوله ژوندی کول او د فلسطين ځمکې ته يې ستنول.
٢. ديني زده کړو، عباداتو او ديني شعايرو ته د خلکو هڅونه.
٣. په يهودي ملت کی د قوم پالني حس ته وده ورکول.
٤. په نړۍ کی د يهودي ډلو وحدت رامنځته کول او تنظيمول.

**ب- سياسي:** د نړۍ له گوټ گوټ څخه د يهوديانو راټولول او په فلسطين کې د يهودي دولت وجود تسليمول.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانى اومعاصره بڼه

نصرانيت / عيسويت - په عيسى عليه السلام نازل کړاى شوى دين:

- د تاريخ په اوږدو کې الله تعالى پيغمبران عليهم السلام راليږي، چې د ټولو پيغام يو و، چې هغه د توحيد بلنه و.
- موسى عليه السلام د همدغه موخې لپاره بني اسرائيلو ته راليږل شوى و، په نتيجه کې ځنو وګړو پرې ايمان راؤړ؛ البته زياتره يهوديانو ور څخه انکار وکړ، او د پيغمبرانو په تکذيب، وژنې او ترور يې لاس پورې کړ، الهى دين يې تحريف کړ حرام يې حلال اوحلال يې حرام وګرځول، د دنيوى لذتونو او خوندونو په مينه کې يې له افراط څخه کاروا‌خيست؛ نو پر همدې اساس، خيانت، تمه، او کينه او د فتنو اور ته لمن وهل د دوى اصلي خوى او خصلت وګرځېد.
- دوى اټکل کاوه چې د نړى پر ملتونو غوره والى د دوى ترقيامته ټيکه ده، دالله تعالى دوى ته عيسى عليه السلام په نوي رسا لت او پيغام سره را وليږه دغه دنوروپيغمبرانو درسالتونوپه څېر عقيده او شريعت و .
- د عيسى عليه السلام د پيغام طبيعي بڼه داوه چې د تورات پيغامونه د انجيل د ځنو تعديلاتو سره خلکو ته وړاندې کړي، د عيسى عليه السلام رسالت داسرائيلي قوم دماده پالنې په خلاف و او د عيسى عليه السلام ټولې شوونې د پاکوالي او روحانيت په لور وې ترڅو بشريت د ماده پاله تهذيب له زولنو څخه خلاص او دروحانيت هسکې پوړى ته يې ورسوي.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانى اومعاصره بڼه

د نصرانيت د رامنځته کيدو چاپيريال:

- د عيسى عليه السلام په وخت کې رومى بت پاله دولت د شام په هيوادونو او بيت المقدس واکمن ؤ، يهوديانو د نوي دعوت پر وړاندې پردسيسو جوړولو لاس پورې کړ، د فتنې اور ته يې هوا ورکړه؛ ځکه د پيغمبرانو تنګول، زورول او وژل د دوى پخوانى عادت ؤ.

د نصارى ؤ د زوروني پيل

- د يهوديانو او عيسى عليه السلام د پيروانو ترمنځ سخت ټکر رامنځته شو، يهوديانو خپل همت له لاسه ورنه کړ يوه شيبه يې هم دفتنواورته دلمن وهلوڅخه ډډه ونه کړه ترديې چې د رومى امپراتور بيلاطيس يې قانع کړ چې دعيسى عليه السلام دوژنې فرمان صادرکړي.
- الله جل جلا له عيسى عليه السلام اسمان ته يې وخېژاوه د ده پرځاى يې يهوذا اسخريوطي وواژه، په دې اړه الله تعالى فرمايلي: {وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِنْهُ مَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا (157) بَلْ رَفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا} [النساء: 157، 158].

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

**د نصارى ؤ د زورونې پيل**

- د عيسى عليه السلام اسمان ته تر پورته کېدو وروسته د ده د ملگرو په تعذيب او شکنجه کولولاس پورې کړای شو. کله چې د روما ښار وسوځول شو د امپراتور نيرون په دور کې د دوی تعذيب ډېر زورواخيست، وروسته توراجان او ديسيوس هم د دوی تعذيب ته ادامهورکړه. او په پای کې د قدريانوس وخت د شهداؤ د عصر په نوم شهرت لري.

**د يوناني تمدن خصوصيات**

- يونانيان د پوهې او لوړ استعداد څښتنان و؛ البته دديانت او عبادت په لحاظ ډېر ټيټ و، بت پالنه يې ستر عادت و، په دې ولس کې لوی لوی اديبان، فيلسوفان او شاعران و؛ خو له نوروملتونوسره يې لاندې ځانگړنې مشترکې وې:

1. په محسوسو شيانو باور کولو او د مغيباتو څخه انکار کول.
2. د ديني او روحاني حس کمبود.
3. په دنيوي لذتونو او خوندونو کې پريوتل.

- په لنډه توګه به ووايو: يوناني تمدن ماده پال او بت پال ؤ، په دې قوم کې ګډا، فحشا، موسقي او قومي مينه تر ټولو زياته وه له نورو ملتونو او قومونو سره به يې د ځارويو په څېر چلند کاوه.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانى اومعاصره بڼه

**د روماني تمدن خصوصيات**

- رومي تمدن د يونانيانو څخه اغيزمن ۇ په ځانګړې توګه د علم، فلسفي او ادب په ډګر کې د هغوی شاګردان او ډېر ورته والى يې ورسره درلوده لکه:
- په محسوساتو باور، دين ته د شک په سترګه کتل، له خپل هېواد سره بې کچه مينه او د قوت او ځواک تيارول.
- روميانو چې څومره په علمي لحاظ پرمختګ کاوه په هماغه اندازه يې دين ته په ټيټه سترګه کتل.
- د لومړۍ ورځې نه يې دين اوسياست سره جلا کړل، ويل يې خدايان او دين د سياسـت په چاروکې بې واکه دي.

**د نصرانيت د را منځته کېدو نه مخکې رومي دولت لاندې بڼه غوره کړې وه:**

١. دين بت پال ۇ.
٢. يهودي دين.
٣. د عيسويت دين

وروسته ځنې وګړي په نصرانيت کې شامل شول؛ خو پوهه او انګيزه يې پت پاله وه، د رومي دولت څخه د کرکې په وجه يې د ماده پالنې سره يوځاى روحاني تشه ډکه کړي، په همدې اساس نوي دين تبارز وکړ.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانى اومعاصره بڼه

په نصراني دين کې د بدلون لومړۍ پیلامه

- د دغه دين د ظهو ر په لو مړيو کې تحريف پيل شو، دغه کار شاول يهودي چې په بولس سره يې شهرت درلود دنصراني محرف (بدل شوي ) دين لومړی حقيقي مؤسس بلل کېږي، نوموړی د عيسويانو په زورولو ګمارل شوی ؤ.

شاول او د دين تحريف: په (۳۸م) کال شاول د دمشق په لاره د عيسى عليه السلام دپيروانودزورو لو لپاره روان ؤ، ناڅاپه د شا له خوا واوريدل: ته ولې پر ما په غوسه يې؟ ده ورته وويل سرداره! نه څوک يې؟ هغه ورته وويل زه رب يم زه يسوع يم. شاول حير ان شو اوو يې ويل ای رب ته څه غواړې چې زه يې وکړم؟

- هغه ورته وويل پاڅه او مسيحيت قبول کړه.
- په دغه وخت کې د عيسى عليه السلام په لاس روزل شوي شاګردان ژوندی ؤ، هغوی د شاول داخبره رد کړه او ويې پېژانده چې هغه په يهوديا نوکی ددوی ترټولولوی دښمن دی.
- بولس (شاول) دمسيحيت په څېر ولوپيل وکړ خلکو ته به يې ويل دبل چا په لارښوونو پسې لاړ نه شئ څه چې تاسو نه وايم له واسطې پرته ماته د عيسى له تعليما تو څخه راکول کېږي. بولس د هندوانو، بودايانو او يهوديانو د فلسفې تعليمات خپاره او د تثليث عقيده خلکو ته وړاندې کړه، په ( 66 )ميلا دي کال ومړ.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

په نصرانيت انحراف

په عقيده کې انحراف: په نصرانيت کې انحراف او بدلو ن لو مړی په عقيده کې رامنځته شو، په عيسى عليه السلام باندې نازله شوې د توحيد سوچه عقيده يې بدله کړه، د عامو وګړو د خوښۍ لپاره يې بت پالنه په نصرانيت کې رامنځ ته کړه.

د بت پالو په وړاندې د نصرانيانو د تسليميدو لامل:

نصرانيان د سختو کړاوونو سره مخ وه، کله چې قسطنطين واک ته ورسيده، د ټولو بنديزونو د لرې کولو اعلان يې وکړ او نصرانيان هم ډيرو تنازلاتو ته تيار شو، دا د دوه لاملونو څخه:

١. د نصرانيات د تحريف بنسټ د بولس په لاس څرګندې شوې، وروسته شرکيات او بت پالنه په نصرانيت کې د منافقانو او يهودو له لورې ورددنه شول.

٢. د قسطنطين د خوښۍ لپاره د نصراني علماؤ يوه ډله هم په دغه کار کې شريکه وه.

وروسته د دوی لويې تاريخي غونډې جوړې شوې، په (٣٨١م) قسطنطيه کې غونډه وشوه او عيسى عليه السلام يې اله اعلان کړ، په (١٢١٥م) غونډه وشوه او لوی پاپ ته يې صلاحيت ورکړ، چې کولای شي د بخښنې چک ورکړي، او په (١٨٦٩م) کې غونډه وشوه په هغې کې يې پاپ معصوم وباله.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

د کلیسا طغیان: کلیسا د نصرانیانو عبادت ځای ته وایې، د دوی په نزد د دې عبادت ځایونو متولیان (مذهبي چارواکي ) مقدس دي او دوی ته دغه مقام مسیح بخښلی، د دوی په فکر لوی پاپ او سیمه ئیز مذهبي چارواکي ټول لوړ مقام لري.

روحي طغیان: نصارٰی ؤ خپل دین تحریف کړ، کلیساخپل ځان ته حق ورکړ ترخو دیني اسرارو پټ را زونه خلکوته څرګند کړي او خلک به یې له منا قشې پرته په پټو سترګو مني، کلیسا کولای شول خلکو ته ګنا هونه وبخښي، دحلا لو او حرامو واک د پاپ په لاس کې و، کلیسا دومره واک تر لاسه کړی ؤ چې پادشاهانو به ورته سرونه ښکته کول.

سیاسي طغیان: په پنځمه میلا دي پېړۍ کې کلیسا والو او پاپ ډېر واک تر لاسه کړ له دغه واک څخه ددوی مو خه دالهي احکامو تطبیق نه؛ بلکې غوښتل یې دغه واک دخپلو شخصي ګټو په محورا وڅرخوي.

- کلیسا اعلان وکړ چې دوی د خلکو د روحونو، عقلونو او جسد ونو واکمنا ن دي، بادشاهان دپا پ دلاس امسا وه چې ولسو نه به یې پرې را ښکیلول، د همد غو احمقانه کړنو له امله د خلکو له زړونو د دین هیبت ووت.
- له همدې امله پو هان، مفکرین اولیکو الان د کلیسا د ظلم له پنجو څخه د خلاصون په فکر کې شول کلیسا او دولتي چا رواکو په ګډه پرېکړه وکړه چې که چېرته دغه ګمراهان تو به ونه باسي په اعدام یې باید محکو م کړي.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

مالي طغيان: کليسا د خلکو شتمنيو د لاس ته راوړلو لپاره روحي سلطه ټينګه کړه، د دې کار لپاره کليسا بېلابېلې لارې جوړې کړې؛ د خلکو په مالو نو ټکسو نه ولګول، هر يو شخص به د مرګ په وخت د کليسا لپاره وصيت کاوه.

- ديورانت ليکلي دي : هر چا به چې ټکس نه ور کا وه اوو صيت به يې نه کولو دکليسا دکشيشانو له خوا به د لعنت او له دين څخه دوېستلو مستحق ګڼل کېده او هم به يې اجازه نه ورکوله چې دصا لحينو په مړستون کې دفن کړای شي.

د بخښنې چکونه: کليسا يواځې په ټکسونو، ډاليو او وصيتونو اکتفاء ونکړه؛ بلکې د خلکو د مالونو د لوټلو لپاره يې نورې لارې جوړې کړې، د ګناهونو بخښنې او د جنت چکونه يې مړو او ژونديو ته ورکول.

اخلاقي فساد: د کليسا زياتره ديني شخصيتونو ښځينه او نارينه و د رهبانيت لاره غوره کړه او دا زواج نه پرته ژوند يې سرته رسا وه، د کليساوالو دغه کار رومي دولت د اميرانو او چارواکو پرخلا ف عملي غبرګون ؤ، له بلې خوا نصرانيانو ښځينه ته په ډېره سپکه سترګه کتل او هغه يې دشر او خباثت سرچينه بلله.

- د رهبانيت له امله د کليسا په ديني طبقه کې فحش او اخلاقي فساد تر لوړ پړاوه ورسېد.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

علمي طغيان: کليسا يواځې د خلکو ځانونه، مالونه او روحونه يرغمل نه کړل؛ بلکې دخلکو افکار اوعقلونه يې هم د جبر، زور په وسيله واکمني غو ښتله هدف يې د حق، نور، توحيد او د هغه علم مخه نيول و چې د اسلامي هېوادونو څخه هلته صادرېدله.

- د کليسا ديني مشرانو په خپل مقدس کتاب کې فلسفه، جغرافيه او تاريخ ورننوېسته و يې ويل: چې دغه ټول له وحی څرو ښېږي هېڅوک حق نه لري چې ددې پر خلا ف خپل نظريات وړاندې کړي.

د تفتيش (خارني) محکمې: د خارنې محکمې د مخالفينو په ضد په (۳۹۰م) کال جوړې شوې، غړی يې د کليسا راهبان ؤ او دنده يې د نصراني عقيدې د مخالفينو ټکول ؤ.

- دوکتور توفيق طويل وايي: دوی به د مخالفينو پر بدن شمعې بلولې، غاښونه يې ورڅخه وېستل، سخت وهل او ټکول به يې ورکول، په اسپانيه کې يې (۱۳۰۰۰۰) انسانان ووژل، (۲۹۰۰۰۰) وګړو ته يې داعد ام نېژدې سزاګانې ورکړې.
- په (۱۵٦۸م) کال يې ددغې سيمې په مليونونو ښځينه ، نارينه او ماشومان ووژل.
- مولنا سيد ابوالحسن على ندوی ليکلي: له مسلمانانو پرته يې (۳۳۰۰۰۰) ساينسي علماء وژلي، د (۳۰۰۰۰) په هکله يې پرېکړه صادره کړې وه چې په اور کې دې ژوندي وسوځول شي.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

**دیني اصلاحي خوځښت:** د کلیسا دظلم او طغیان پر خلاف دننه او بېرون غبرگونونه رامنځته او د اصلاح اواز یې پورته کړ، په (۱۶م) پېړۍ کې مارتین لوثر پروتستاني حرکت پیل کړ، تر ټولو مهم یې:

- د پاپ د احکامو تردید ؤ هغه چې په کتاب مقدس کې یې شتون نه درلود.
- د بخښنې د چکونو ورکول، د پاپ له خوا خلکو ته گناهونه بخښل او نور ډېر فاسد عقاید.
- د کلیسا د کاهنانو او بامیړانو لپاره نکاح او په کلیسا گانو کې دبوتانو د ایښودلو منع کول.
- د کلیسا تر بامبړانو پورې د کتاب مقدس دفهم دټیکه دارۍ لغوه کېدل او داسې نور....

**اروپا یې نهضت:** اروپا یې نوی نهضت له دین نه لرې رامنځته شو، په منځنیو پېړیو کې د اسلامي نړۍ او اروپایانو ترمنځ صلیبي جگړې ونښتلې.

- د دغو جگړو له امله نصرانیانو اسلامي نړۍ او د مسلمانانو ژوند ولیده، نصرانیانو د اسلامي نړۍ د علومو څخه چې د منځنیو پېړیو د افتخار نښه وه گټه واخیسته، په اندلس او د افریقا په شمال کې د مسلمانا نو سره تصادم رامنځته شو نصرانیانو د مسلمانانو د تجربوي علومو څخه گټه واخیسته او په هغې باندې یې خپل علمي نهضت پیل کړ او د انسا ن لپاره یې علمي حریت او ازادي لا زمه وبلله.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

د نجات فرصت له لاسه ورکول

- اروپایانو د نجات فرصت د هغې کینې، تعصب، حسد او بغض له امله لا سه ورکړ هغه رڼا چې داسلامي نړۍ څخه دوی ته راروانه وه، هغه یې پرېښوده د دوی مفکرین د رومي او یوناني بت پاله تمدن ته‌ېتي کندي ته ورو غورځېدل او په دوام داره تو گه اروپا له اسلام سره په دښمنۍ کې پاتې شوه
- د کلیسا مشران د علم سره په اخ او ډب کې ولوېدل؛ ځکه چې پو هه او علم یې د خپل اقتدار لپاره لوی خطر گاڼه.
- ورو ورو خلک له دین څخه لرې کېدل او پیل یې له بت پاله یوناني اورومي تمدن څخه وه.
- په منځنیو پېړیو کې اروپایانو په اندلس کې زده کړه وکړه. مسلمانانو د ارسطو کتابونه عربی ژبې ته وژباړل او په هغه کې یې اضافه والی وکړ، په داسې حال کې چې په ځنو علومو کې ارسطو د دومره نبوغ سره سره ورڅخه عاجز ؤ چې هغه د رياضي علم و مسلمانانو ډېر پرمختګ ورکړ.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانى اومعاصره بڼه

د مادي فلسفو او تجربوي کړنلارې رامنځته کېدل

عقلي فلسفه: د عقلي فلسفې بنسټ ایښودونکي دکارت، سپینوزا او لینز دي، دوی عقل ته د (اله ) مرتبه ورکړه او په دې باوري ؤ چې د نړۍ ټول مظاهر د مادې د حرکت نتیجه ده، دوی له روح څخه منکر وګرځېدل.

د ټولنیز تړون نظریه: په منځنیو پېړیو کې د رومي قانون تدوین تکمیل شو، امپراتور غوښتل چې د کلیسا واک کم کړي نو دغه نظریه یې وړاندې کړه چې ټول څواک د ملت دی، دغه نظریه له سیاسته ددین په بیلتون ولاړه ده

د تجربوي مسلک رامنځته کېدل: تجربوي مسلک اروپایانو له مسلمانانو څخه ترلاسه کړ ددغې نظریې مؤسس فرانس بېکن او د کارت دی دوی د تخمین او حدس پر اساس بیان ردوي، په همدې توګه په انګلستان کې بل فیلسوف جان لاک رامنځته شو هغه په دې باور درلو د د چی دمعرفت اصل تجربه ده نه عقل.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

**د سببيت مسلک:** دغه مسلک د نيوټن په وسيله رامنځته شو، نيوټن د جاذبې قانون کشف کړ، د ده په نيز د (اله ) تصور داسې حيثيت لري لکه د ساعت جوړونکی، چې يو ځل يـې جوړ کړ او په حرکت يـې راوست نور نو تر ابده چلند لري او تر صانع پورې يې هيڅ ارتباط نشته.

- ځني وګړي له دې نه هم مخکې ولاړل او په ډېر وياړ سره يـې ځان ملحد وباله او ويل يـې چې انسان د طبيعي قوانينو تر انحصار لاندې دی، دغې نظريې ته فزيک پوه هولباخ رواج ورکړ، نوموړی په دې هکله داسې وايـې: ماده په فعاليت بوخته ده داخکه چې ماده شتون لري اوفعاليت کوي البته که چېرې له دوی څخه پوښتنه وکړو چې ماده څرنګه پيدا کيږي او د څه په خاطر پيدا کېږ ي نو دغه پوهان د ناپوهۍ ځواب ورکوي.

**فکري اخ او ډب:** په اروپا کې د دين د واکمنۍ په مهال دين د معرفت يواځېنۍ وسيله وه، دوی به خپل مقدس کتاب ته کتل او هغه به يـې د عقل څخه پورته باله. عقل حق درلود چې څېړنه وکړي؛ مګر وروستۍ پرېکړه د دوی د کتاب مقدس وه.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

د تنوير دوره: د (۱۸م) پېړۍ نيمايي ته په اروپا کې د تنوير دوره ويل کېږي، په دې وخت کې دوی عقل د معرفت يواځنی وسيله وبلله او حق يې درلود چې سياسي، ديني، قانونی اوټولنيزې برخې رهبري کړي دتنوير هدف دا ؤ چې دين د رهبرۍ او مشرتابه له مقامه گوښه کړي او ځای يې عقل ونيسي.

- د دغه وخت د پوهانو د جملې فېخته المانی، او انگليسی هېگل ؤ .

د فرانسی انقلاب:

په دغه وخت کې د کليسا، بادشاهانو، فيوډالانو او ځمکه والو ظلم پيل کړی ؤ، په همدغه مهال د فرانسې انقلاب رامنځته شو، ترڅو ولسو و ته د سياسي استبداد او ظلم له منگولو نجات او د دين له قيوداتو يې آزاد کړي.

- انقلابيانو د کليسا شتمنۍ لوټ کړې، د مذهبي خلکو ټول امتيازات يې لغوه او عقل يې يواځني معبود اعلان کړ.

صنعتی انقلاب: صنعتي انقلاب دفرانس له انقلاب سره يوځای پيل شو، خلکو په فکر، اختراع او کار کولو کې ازادي تر لاسه کړه، د اروپا فيو ډالي نظام ته د پای ټکی کېښودل شو، کاريگره طبقه، ښځې او نر له کليو ښارونو ته راغلل، يو تر بله يې سره نه پېژندل پر دې اساس د دغو ازادو اړيکو په نتيجه کې کو رنی نظام ړنگ شو .

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

د طبیعت سیادت: د (۱۸م) پېړۍ په پای ته رسېدو سره د تنویر عصر پای ته ورسېد، او د اروپایي فکر نوی دور پیل شو چې هغه دعقل سیادت او قیادت دی، ددې معنا دا شوه چې دین او وحی تش دخلکو غولول اودوکه کول دي په همد غه اساس لینن او مارکس هم دین ته د ملتونو د اپینو او تریاکو نسبت وکړ، عقل د سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ژوند لارښود وګڼل شو عقل همدغه فلسفه په اروپا کې خپره شوه، مهم شخصیتونه یې:

اوجست کومت: نوموړی د یوناني فلسفي څخه اغیز من و او په دین یې اعتقاد نه درلود عقل یې د هر څه محور باله او په ازادۍ خېړنې باوري ؤ.

فیورباخ: نوموړی د وضعي فلسفې دویم شخصیت دی، چې په (۱۹م) پېړۍ کې یې نصرانیت د دین پر ضد ګام پورته کړ، د نوموړی له نظره دین د انسان د علم او عقل محصول دی، له اخرت څخه منکر او انسان معبود بولي.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

داروین: د نوموړي له نظره د ځمکې پرمخ هېڅ شی ثابت نه؛ بلکې د تغیر اوبدلون په حال کې دي د دغه تصور نتیجه په الله تعالی د ایمان تزلزل او له روحانیت څخه انکار وګڼل شو.

د کمو نیزم ظهور: د دغه تصور مشران سان سیمون، شارل فیورباخ، روبرت اوین دوی ټول د عامه رفاه غوښتونکي دي، دوی وايي چې د ټولنې رهبري به د هغه چا وي چې څوک شتمني لري، په همدغه اساس له دوی نه وروسته مارکسستی فلسفه رامنځته شوه، نوموړی دین، انسان او ژوند ټول مادي بولي په روحانیت او له مادې ورا خوا په یو غیبي ذات اعتقاد نه لري، د ښځې او د تولید د ټولو شیانو په اشتراک باوري دی.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانى اومعاصره بڼه

د نصرانيا نو اوسنۍ ډلې: په اوس وخت کې نصرانيان په درې سترو ډ لوويشل شوي لکه:

١. کاتو ليک.

٢. ارتودوکس.

٣. پروتستانت

پورتني درې واړه ډلې په دې عقيده کې سره يو دي، چې عيسى بن مريم (اله ) دی، يا پوله درې خدا يا نو څخه دی . په صليب اقرارکوي. دوی داعقيده لري چې الله تعالى جل جلا له ادم عليه السلام د ونې له خوراک څخه منعه کړی ؤ ؛ مګرادم عليه السلام دابليس په لمسون تيرووت او له هغه ونې څخه يې خو راک وکړ . الله جل جلا له هغه اواولاد يې دفنا، مستحق وګڼل ؛ ليکن الله جل جلا له په خپلو بند ګانو رحم و کړ . خپلې کلمې ته يې جسد ورکړ دغه کلمه دالله جل جلاله ازلې زوی ؤ. الله جل جلاله خپله پرښته جبريل عليه السلام مريم عزراء ته دمسيح دزېږې لپاره ولېږله. مريم کلمه وزيروله. الله جل جلا له د تل لپاره د هغه پلار وګرځېد، پلار د ده په مړينه خوښ مګر د صليب حقدار نه ؤ؛ مګر دا د دې لپاره، چې کلمه د پخوانى ګناه فديه او قرباني وګرځي.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

**کاتو لیک:** کاتولیک د عبادتخانې په معنا ده، د دې نوم د معنا وجه همدا ده چې دوی دعوه لري، چې د ټولو عبادتخانو بنسټ ده، بل په دې اعتبار چې یواځې هم دوی په ټوله نړۍ کې عیسویت خپروي په ځانګړي تو ګه دوی په ایټا لیا، بلژیک، فرانسې، فرانسې، اسپانیا، پرتګال او ځنو نورو ښارونو برید کوونکي ؤ.

- د کاتولیکي عبادت ځایونو سرپرستي د روم د پاپ په غاړه ده، دویوایې: روح القدس له الله جل جلاله له څخه پیدا شوی، لهذا پلار او زوی دواړه سره ګډ دي، د پلار او زوی د مساوات عقیده لري.
- د کاتولیکانو په مذهب کې د زندۍ شوي حیو ان غو ښه روا ګڼل شوې ده.
- همدا سې د عبادت کوو نکیو لپاره د خنزیر د تیلو خوراک هم جا یز ګڼي.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

ار تودوکس: دغه ډله دروم ارتودوکس عبادتخانې، مشرقي عبادتخانه، يوناني عبادتخانو سره يادېږي، د دې ډلې زياتره اتباع د ختيځ روم او د ختيځو ښارونو څخه دي، لکه روس، بلقان، يونان د دوی اصلي ځای قسطنطنيه وه. دوی له اصله د کاتوليک پيروکار دي په (١٥٤م) کال د ميخايل کارولايوس بطريريک په زمانه کې يې بيله لار غوره کړه.

- د دوی ځانګړي عقيده: روح القدس يو اځې له پلار (الله ) څخه راپيدا شوی ګڼي، د ارتودوکس کليساګانو مشر مقرر نه دی. هره يوه کليسا عبادتخانه، خپلواکه ، او ازاده وي؛ اګر که دوی ټول په عقايدوکې سره يو دي.

# اسماني تحريف شوي اديان په پخوانی اومعاصره بڼه

پروتستانت: پروتستانت د مارتن لوثر پیروان دي، دوی د شپاړسمې پیړۍ په لومړیو وختو نو کې پیدا شول، پروتستانت د اړ او محتاج په معنا دی، د دې عقیدتمند په انجیله کنیه سره یا دېږي، ځکه دوی دعوه لري. چې دانجیل پلو یان دي، دوی له انجیل څخه پرته د بل څه پیروي نه کو ي او نه مشرانو ته ځان اړ بو لي؛ بلکې دوی په خپله ځانونه پوهوي.

- دغه مذهب په المان، انګلستان، ډنمارک، هالیند، سویس، ناورې او شمالي امریکا کې خپور دی.
- انګریزان د خپل ځان نسبت همیشه کاتولیک مذهب ته کوي، همدا سې دوی د ټولو اصلی کلیسا ګانو نسبت او اطلاق د رومانیې کاتولیک کلیسا باندې کوي.
- د دوی ځانګړتیاوې: دوی انجیل د نصرانیت ځانګړنه ګرځو لې ده. د دوی په عقیده کلیسا د ګناهونو د بخښلو حق او وړتیا نه لري او نه رهبانیت ته کو مه اړتیا شته دوی ویل دا دشیطان عمل دی او دبت پرستی سره ورته والی لري. په عمومي سطحه د پروتستانت (د کلیسا ۇ ) عمو مي مشر نشته، دوی په دې دود کې د ارتودوکس په څیر دي.

# صابئین او زردشتیزم

## د صابئین پېژندنه

دغه ځانګړې ډله ده، يحي عليه السلام خپل پيغمبر بولي، د ستورو تعظيم کوي او د شمالي قطب ستوري عبادت کوي، په اوبو کې لمبول د دي دين له مهمو نښو څخه ده، الله تعالى فرمايلي: {إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالنَّصَارَى وَالصَّابِئِينَ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ } [البقرة: 62].

- اسلامي فقهاء د يهوديانو او نصرانيانو په شان جزيه اخيستل ورڅخه روا بولي.
- بنسټ او بارز شخصيتونه: دوی دعوه لري چې د دوی دين دادم عليه السلام زمانې ته رسيږي، د نوح عليه السلام زوی سام ته ځانونه منسوبوي، دوی په قدس کې اوسېدل؛ مګر د ميلاد څخه وروسته له فلسطين څخه وشړل شوه او د حران سيمې ته يې هجرت وکړ، د هغې سيمې خلکو د ستورو عبادت کاوه دوی هم ورڅخه متأثرشـول، بيا له هغه ځايه د عراق جنوب او ايران ته ولېږدېدل چې تراوسه هلته پاتې دي.
- عبدالله بن شيخ سام ددوی مشر دی، چې په ( ١٩٦٩م) کال کې په بغداد کی اوسېده

# صابئين او زردشتيزم

د صابئين مقدس کتابونه په سامي ژبه دي، دوی ګڼ کتابونه لري:

۱. الکنزاریا: ددوی په عقیده دادم علیه السلام صحیفې دی، چې د نړۍ د جوړښست، د مخلوقاتو د نظام، دعاګانو ، کیسو او په نورو موضوعاتو مشتمل دي، د عراق په موزیم کې شته په (۱۸۱۵م) کې کوپن هاګڼ کې چاپ شو.

۲. دراثه ادیهیا: د یحی علیه السلام لارښوونې په کې دی.

۳. فلستا: د نکاح د تړون او کورني نظام احکام په کې دي په تقریبي ډول ددوی کتابونه دولسوته رسیږي.

ددوی مذهبي خلک: د دوی په دیني شخص کې شرط دادی: چې بدن به یې روغ حواس به یې جوړ وي واده به لري، او اولاد به راوړي، مګر سنت کړی شوی به نه وي.

# صابئین او زردشتیزم

د صابئینو معتقدات:

۱. دوی د یوازلي ذات په شتون باوري دي چې بشري حواس ورته نه شي رسېدلی؛ خو د وی ددرې سوه او شپېته کسانو په هکله باوري دي چې دوی د (اله) کارونه پرمخ بیايي، دوی وايې: ستوري د ملایکو استوګنځایونه دي.

۲. مندي: د دوی معبد دی ددوی سپیڅلي کتابونه همدلته وي.

۳. لمونځ: دوی په ورځ کې درې ځله لمر ختوته نېژدی، دزوال مهال غرمه او د لمر لوېدو پر وخت، د یکشنبې په ورځ او اخترونو کې یې په جماعت سره ترسره کوي لمونځ اداءکوي.

٤. روژه: دوی دکال په بېلابېلو وختونوکې شپږ دېرش روژې نیسي دوی د مباحو غوښو ځخه ځانونه ژغوري.

٥. اودس: ددوی اودس دمسلمانانوله اوداسه مشابهت لري.

٦. لمبل: د ماشوم د ولادت نه پنځه خلوېښت ورځې وروسته ماشوم لمبوي، د واده لمبول درې ځله په اوبو کې غوټه او بل اجتماعي لمبل دي چې ښځې، نر، واړه او لویان یوځای لامبي او بل د اخترونو لمبل لري.

# صابئین او زردشتیزم

د صابئینو معتقدات:

٧. د هرې پیغلې تر واده دمخه د بکارت د پردې معاینه ضروري بولي.

٨. د ګناه او یا زنا له کبله ښځه او نر په اوبو کې ډوبول کېږي ترڅو پاک شي.

٩. د نصرانیانو په شان د یکشنبې ورځې تعظیم کوی.

٠١. دوی د هر یو دیني مناسبت لپاره ځانګړې جامې اغوندي.

١١. دوی په تناسخ عقیده لري د نیک انسان روح په کوم حیوان اودبدانسان روح په ځناورکې ننوځي.

٢١. د ښځو د نکاح لپاره اندازه نشته.

٣١. دوی د دواخورک ردوي په پیبچکاریو او ملهمونواعتراض نه لري.

٤١. د دوی ځوانان کاهنانوته راځي اوخپل بخت معلوموي.

٥١. د هغه مال غوښه نه خوري، چې ددیني کسانو او ستورو پېژندونکو په لاس نه وي ذبحه شوي.

٦١. دوی میراث دمشر زوی حق بولی؛ مګر د مسلمانانو سره د نېژدې پاتې کېدوله امله داسلامي میراث قانون پلې کوي.

٧١. دوی یوناني فلسفې ته درناوی کوي، د دوی په کتابونو کې یې نښې ترسترګو کېږي،

# صابئين او زردشتیزم

د نفوذ ځایونه یې

- دوی د عراق د فرات او د جلې د سیند پر غاړه پراته دي.
- په ایران کې اوسیږي.
- د دوی ټوله شمېره لس زره خلک اټکل شوي.
- دوی د سپینوزور په اوبه کولو، د لرګي کښتیو جوړولو، اهنګري او د خنجرونو په جوړولو کې مهارت لري.
- دوی د کار کولو لپاره بیروت، دمشق او اسکندریې ته درومي، ځنی خوانان یې تر ایتالیې، فرانسې او امریکا پورې ورسیدل

# صابئین او زردشتیزم

**زردشت پیژندنه:** پخوانی اور پالونکی دین دی چې د فارس په امپراتورۍ کې خلک پرې باوري دي.

**تاسیس یې:** په (۶ق م) پیړۍ کې دزردشت په وسیله دبنسټ ډبره کېښودل شوه.

**مهم شخصیتونه یې:** زردشت داسیاپه لویدیز په ادزبائیجان کې زیږېدلی، پلار یې یوروزهایو او مور یې دوغدما نومېدله، نومورې زده کړې وکړې، په دوه خدایانو د خیر او شر باور درلود، د خیر خدای یې یزدان او د شر یې اهریمن وباله، دخیر غوښتونکي به جنت ته ځي اودشر پیراون به دوزخ ته ځي.

- د کاهنانو او د بتانو پنډتانو سره یې د وخت د حاکم په مخ کې د مباحثی مجلس جوړ کړ، له درې ورځو بحث نه وروسته بریالی شو.
- حاکم او د وخت امپراتور ډېر غوایان ذبحه کړل او په پوستکو یې په سروزرو د ده لارښووني ولیکلې؛ مگر په ( ۳۳۰ق م) کال لوی سکندر دغه پاڼی وسوځولې.
- د ده د لارښوونو ځنې برخې راټولې اوفارسې ژبې ته وژباړل شوې دغه خطي نسخه په( ۱۲۵۸) میلادي کال تیاره شوه.
- دزردشت ډېره ښایسته هوښیاره لور وه چې بوروکیستا نومېدله د وخت لومړي وزیر په نکاح کړه، له همدغه امله یې سیاسي ملاتړ ترلاسه کړ او د سیمې گوټ گوټ ته یې ان ترهندوستانه د ده لارښووني خپرې کړې.

# صابئین او زردشتیزم

## د زردشت معتقدات

- د فارس اریایانو له زردشت دمخه د ګڼو خدایانو عبادت کاوه؛ مګر زردشت ټول خدایان ملغی اعلان کړل په دوه خدایانو باور چې د خیر (اله ) یزدان او د شر (اله ) اهریمن وباله، اور یې د خدای او بندګانو ترمنځ واسطه وباله.
- دوی په اخرت هم باور لري.
- د نېکو کاره انسان لپاره جنت او د بدکار لپاره په دوزخ معتقد دي.
- پاک او صفا ګرځي.
- مړي ته غسل ورکوي او د بام په سر یې مرغانو ته ږدي.

# صابئين او زردشتيزم

## واک اواقتدار يې

- د ساسانيانو په دوره کې د هېواد رسمي دين زردشتی ؤ.
- په سياسي لحاظ مطلق استبداد حاکم ؤ.
- ساساني حاکمانو خپل ځانونه اسماني نژاده او د الوهيت مظهر گڼه.
- له سجدې پرته ورته په بل څه نه خوشبېدل.
- د مېرمنو نامحدود شمېر د اشرافو په طبقه کې رواج درلود.
- مېړه د مېرمن د هر څه څښتن ؤ.
- له ښځينه ؤ سره د حيوان په شان چلند کېده.

# صابئین او زردشتیزم

**امتیازي خصوصیات یې**

- امتیازي خصوصیت یې ښه مدیریت، ښه حکومتولي، بریالی سیاست.
- له خپل رعیت سره نېک چلند او ښه تدبیر و.
- د ساسانیانو په دور کې د مداین، شاپور او ایوارد شهر ښارونه علمی مراکز ؤ، کتابتونونه یې هم درلودل.
- طب او طبابت ته بشپړه پاملرنه شوې وه.
- د نجوم په علم کې یې لوی لاس ؤ.
- مسلمانانو اداري نظام او جګړه ئیز اصول په جګړو کې د خندقونو ویستل او د تعمیراتو او مهندسۍ په برخه کې له دوی څخه استفاده کړې ده.

# غیر اسماني شرقي اديانو پيژندنه( بت پاله اديان)

هندويزم

- په دنيا کې د هندوانو د عقايدو حد معلوم نه دی او نه يې څوک په ديني ښوونه پوهېږي دوی په نړۍ کې دونو، بوټو، کاڼو، بېزوګانو، غواګانواو نورو شيانو عبادت کوي.
- ګاندي د هندي ملت سياسي لارښود د غوا د عبادت فلسفه داسې بيانوي: غوا زما مور ده او زما په حقيقي مور فضليت لري، ځکه چې زما حقيقي مور ما ته دوه کاله شيدې راکوي او غوا ټول عمر، غوا عادی خوراک ته اړتيالري.
- دوی د ارواحو په تناسخ او وحدت الوجود عقيده لري، د ارواحو د تناسخ څخه مطلب دا دی کله چې انسان مړ شي؛ نو بدن يې فنا او خاورې کېږي او روح يې ورڅخه اوځي د نېکو او بدو عملو دواړو څخه يو نوی ژوند پيداکېږي، که عمل يې ښه ؤ، روح د غوا او مېښې او بل ښه حيوان په بدن او که بد ؤ د پيشو او سپي په بدن کې ننوځي.
- د حلول څخه مطلب دادی چې يو چا د يو شي هيله نه درلوده او د هوی او هوس له غلامۍ څخه خپل نفس ازاد کړ؛ نو خپلو حواسو ته نه راګرځي؛ بلکې روح يې ځي خو له براهما سره يوځای شي.

# غیر اسماني شرقي ادیانو پیژندنه( بت پاله ادیان)

- د وحدت الوجود او حلول فلسفي هندوان دې ته اوچت کړل چې انسان له خدایانو سره متحد او یوځای کړي:

۱. روح: لکه خدایان ازلي او همیشه غیر مخلوق دی.

۲. له مرګه وروسته باید بدن وسوځول شي په دې سره روح ملکوت اعلی ته رسیږي، سوځول د روح لپاره د بدن له غلاف څخه د روح پوره خلاصون دی؛ نو د روح په مخکې درې عالمونه دي:

۱) اعلی اولوردملایکو عالم.

۲) دخلکو عالم اونړۍ په حلول سره.

۳) د دوزخ عالم د ګناهګارانو لپاره.

٤. په بله نړۍ کې ژوند یواځې روحاني بولي.

٥. برهمن په څلور مرتبو کې پرمختګ کوی چې کوچني وي، شاګرد وي او یا د کورنۍ پالونکی وي.

٦. فقیر: چې د بدن له حکم څخه ازاد شي روح پکی واکمن شي او خدایانو ته نیژدي شي.

۷. هغه مېرمن چې مېړه یې مړ شي له بل چا سره واده نه شي کولای په همیشه بد مرغی کې به اوسیږي، د هر چا د اهانت وړ به وی، له همدې امله مېرمنو خپل ځان له مېړونو سره یوځای سوځاوه.

# غیر اسماني شرقي اديانو پيژندنه( بت پاله اديان)

## د هندوانو مقدس کتابونه

هندوان یو شمېر کتابونه لري چې پوهېدل ورباندې ډېر گران او په نااشنا طرز او ژبه لیکل شوي دي، چې مهم يې دادي:

١. الويدا: په ده کې د اریایانو ژوند او د پرمختگ پړاؤنه بیان شوي، چې دا بیا په څلور کتابونو وېشل شوی.

٢. یسا گورویدا: پندتان یی د نذرانو او شکرانو وړاندې کولو په وخت کې لولي.

٣. اثار وید: د تعویذونو او دمونو ویناگانې دي چې جادو او شیطانان پرې دفعه کوي.

٤. ساوا وید ا: دغه څنې ترانې دی چې د دعا او عبادت پرمهال يې لولي.

# غیر اسماني شرقي اديانو پېژندنه( بت پاله اديان)

## د منوشاستر قوانین

- دغه قوانین د هندوانو د ژوند لپاره ترتیب شوی اصول دي چې د میلاد څخه وړاندې دوه پېړۍ مخکې راښکاره شوي، دغه قوانین د هندوانو د سپېڅلي کتاب ویدا شرحه ده، د بېلګې په توګه یو څه ذکر کوو:

١. هغه انسان چې په خپل نفس غالب شي هغه په خپلو حواسو غلبه پیدا کړه، حواس انسان د شر خوا ته کشوي بېشکه نفس انسان ته په بدو چارو امرکوي، د انسان نفس کله هم نه مړېږي بلکې حرص یې زیاتېږي.

٢. څه چې انسان ته ورکړل شوي او څه چې نه دي وکړل شوي دا د هغه لپاره غوره دي.

٣. په شاګرد لازم دي چې له خوږو شیانو غوښې، ښځو او له خوشبویي څخه ځان وساتي، رانجه کوي، بوټان به نه پښود، پښو کوي او نه به د خوراک غوښتنه کوي؛ بلکې په سوال او ګدایي کې به ژوندتېروی.

# غیر اسماني شرقي اديانو پيژندنه( بت پاله اديان)

## د منوشاستر قوانين

٤. که د شيخۍ او پندت توب تر پولې ورسيږي پرې لازم دي چې له کوره ځان وساتي، ژوند په ځنګلونو کې تېرکړي، وښتان،ريره، بربت او نوکانو به نه کموي.

٥. خوراک به يې بوټي وي، له ونې څخه به مېوه نه غوڅوي؛ مګر هغه چې پخپله راغورځېدلي وي يوه ورځ به روژه او بله به بوزه وي ځان به له غوښو او شرابو ساتي.

٦. د موسمونو په بدلون سره به ځان اړوي، لمر لاندې به کښېني د باران په ورځ کې به د اسمان لاندې اوسي.

٧. د خپلې ارامتيا سوچ به نه کوي، له خپلې مېرمن سره به نه ويده کيږي، په ځمکه به څملي.

٨. کله چې تګ کوي په وېره به ځي، په خوښۍ به نه خوشالېږي او په خرابتيا به نه غمژن کيږي

# غير اسماني شرقي اديانو پېژندنه( بت پاله اديان)

## د منوشاستر طبقاتی نظام

منوشاستر هندي ټولنه په څلورو طبقو وېشي او د هرې يوې لپاره دندې او مسئوليتونه ټاکي هغه وايـي:

١. برهمي: دوی به ديني، ښوونه او روزنه پر مخ بيايـي او د پنډت، قاضي او معلم دنده سرته رسوي.

٢. کشتري: دوی هندي ټولنه کې د دفاع دنده پر غاړه لري، تل به وسله په اوږه ګرځوي.

٣. دوېش: دوی به سوداګري او کرونده پرمخ وړي.

٤. د چودري (چوړي ) طبقه به د خدمت او لارو کوڅو د پاکوالي دنده پر مخ بيايـي.

# غیر اسماني شرقي اديانو پيژندنه( بت پاله اديان)

**د منوشاستر له نظره د هرې طبقې امتيازات**

**دبرهمن په هكله:** دوی د احترام وړ دی، د هندي ټولنې هرڅه دبرهمن مال دی، د ويدا تعليمات به وړاندې كوي، د خلكو نذراني او تبركات قبلوي، د دين اساسات او ښوونې به خوندي ساتي، چودري د برهمن غلام وي، بادشاه به دبرهمن له وژنې او سزا څخه ځان ساتي.

**د كاشتريا په اړه:** دوی له فوځي دندې پرته په بل نه شي كولای، د بادشاه په سيمو به هيڅ بركت نه وي چې د كمزورو ملګری شي

**دويش په اړه:** دوی به له خپلې ډلې سره واده كوي، ځان به په محنت او پياده تللو عادت كوي سوداګري او د سود قوانين دې زده كړي، دوی به په زراعت كې ښه مهارت حاصلوي.

**د چودريانو په هكله:** دوی به دبرهمن اوامر پر ځای كوي، دوی ته دېره شتمنيي راټولول روا نه دي، برهمن ته زيان ورساوه او يا يې ورسره د كيناستلو كوښښ وكړ، پاچا به ورته سزا وركوي، كه د برهمن د ځاه نه يې اوبه وڅښلې ژبه دې پرې شي.

- په دې وروستيوكلونوكې دټيټوطبقو خلكو په حالت كې ښه والی راغلی دی.

# غیر اسماني شرقي اديانو پيژندنه( بت پاله اديان)

## سيکان يا سيکيزم

سيکان د پنځلسمې پېړۍ په پای او د شپاړلسمې پېړی په لومړيو کې راڅرگند شول، دوی داسې نوې دين ته چې له اسلام او هندي څخه يوځه په کې وي بلونکي دي ددې شعارلاندې (نه هندو، نه مسلمان )، له مسلمانانو او هندوانو سره دښمني وچلوله، د ځانگړې هېواد ترلاسه کولو لپاره يې د انگريزانو سره کلکه دوستي ساتلې وه.

## بنستې او بارز شخصيتونه

- د دوی لومړنی بنستې ايښودونکی بابانانک (غورو) ده، نوموړی په (1468 م) کال د لاهور کې زيږيدلی دی يو رواجي تقليدي هندو را لوی شو، کله چې ځوان افغانستان ته راغې، مکه، مدينه او د نړۍ گوټ يې وکاته.
- وروسته يې دعوه وکړه چې ده الله تعالی وليده اوده ته يی په دې امروکړ چې بشريت ته دعوت ورکړه، بيا دغسل او حمام کولو په وخت کې په يوه لښتي کې پټ شو او هلته درې ورځې غيب او وروسته راڅرگند شو او دا اعلان يی وکړ چې نه هندو او نه مسلمان دی، د اسلام او هندويزم څخه يې يو نوی دين رامنځته کړ.

# غیر اسماني شرقي اديانو پیژندنه( بت پاله اديان)

- د سیکانو لومړنی عبادت ځای په کاتارپور اوسني پاکستان کې جوړ کړ.
- په کال (۱۵۳۹م) مخکې له مرگه څخه یی له خپلو پیروانو څخه یو خلیفه وټاکه او د دیره بابا نانک په ښارگوټي کې چې د اوسني هند پنجاب له ښارونو څخه دی خښ کړی شو.
- د ده کالي تراوسه پورې ساتلي شوي چې په کې د فاتحې سورت او ځینې د قرانکریم نور لنډسوتونه یې پرې لیکلي دي.

# غیر اسماني شرقي اديانو پيژندنه( بت پاله اديان)

## د سیکانو افکار او عقیده

- دوی الله تعالی مني په وحدانیت ټینگار کوي.
- دوی د گنگا درياب ته چې هندوان د پاکۍ او حج لپاره ورځي هم پاملرنه نه کوي.
- بابا نانک دوی ته شراب او د خنزیر غوښه روا او له هندوانو سره يې د برابر والي په خاطر د غوا غوښه هم ناروا وگڼله.

د دوی ددين پنځه اصول په لاندې توگه دي:

١. له زانگو څخه تر مرگه د وېښتانو پرېښودل ترڅوپه دوی کې بيگانه سړی دجاسوسۍ لپاره رادننه نه شي.
٢. نارينه بايد د پرتوگ لاندې نېکر واغوندي دا د دوی د اخلاقی پاکيزگی رمزدی.
٣. نارينه بايد په دواړو مړوندونو کې د عاجزۍ او غلا څخه دبچ کېدو په خاطر بنگړي واچوي.
٤. د سر په منځ کې دې منځي ايښودل.
٥. همېشه په ملا پورې خنجر او چاقو تړل.

- د رب له مرتبې څخه وروسته بابا نانک راځي، د هغو دینی ترانو چې بابا نانک ترتيب کړيپه لوستلو سره دالله تعالی جل جلاله عبادت کوي.

# غیر اسماني شرقي اديانو پيژندنه( بت پاله اديان)

**د سيکانو کتابونه**

- د دوی کتاب غرانت ديني نظمونه او ترانې دي چې پنځو مخکنيو معلمينو ترتيب کړي او نږدې شپږو زرو ته رسيږي.
- د دوي د وروستنی معلم غوبندسنگ يوسل پنځلس ترانی کومې چې د ده پلار ترتيب کړې وي ورسره يوځای کړي.
- د کايناتو په هکله د دوی اصلي نظريات له هندي نصوصو څخه اخيستل شوی.
- دوی دهندوانو په شان مړي سوځوي.

**د نفوذ ځايونه**

- د هند د امبرسر په ښار کې لوی معبدلري چې حجونه ورته کوي.
- ډيرسيکان د هند د پنجاب ولايت کې اوسيږي.
- په هاريانه، ډهلي اودهند په بېلابېلو برخو کې، په ماليزيا، سنگاپور، ختيځه افريقا، انگلستان او متحده ايالاتو کې اوسيږي، دوی د پيسو شتون ضروري او د ايمان د ارکانو څخه گڼي.